(تذکره)

# ژوند له
# مينې ضروري
# ده



مؤلف :- حساس محمدزے

www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

تذکره

ژوند له

# مینه ضروري

ده

مؤلف :- حساس محمدزی

www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# فهرست


ا :- تاثرات ________ ا

ب :- دا تذکره ________ ت

1 :- حساس محمد زے ________ 1

2 :- ضیاء الرحمٰن شباب ________ 7

3 :- عنایت الرحمٰن عنایت ________ 13

4 :- عادل خان عادل ________ 19

5 :- زاهد خاموش ________ 25

6 :- کامران دانش ________ 31

7 :- حارث نادان ________ 37

8 :- عدنان خیالي ________ 43

9 :- زہن الله زہن ________ 49

10 :- محسن کمال کمال ________ 55

11 :- خان نبي پربت ________ 61

12 :- احد امین رهبر ________ 67

13 :- مدثر جهان ________ 73

14 :- خالق نور یوسفزے ________ 79

15 :- عمبر ننکیال ________ 85

16 :- مفتي معاذ همدرد ________ 91

17 :- عدنان صاحب ________ 97

18 :- ریاض قرار ________ 103

19 :- عبد الصبور حسېن ________ 109

20 :- نجیب الله نجیب ________ 114

21 :- رضوان فدا ________ 120



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# تاثرات

د ډېر وخت نه مې دې خبرې ته پام و چې په سوشل مېډیا د پښتو ادب جنازه روانه ده باید چې ډېر شاعران ادیبان پکښې د کار او زیار بلکه کره لیکل هم خپروي خو اکثریت داسې هم دي چې د شعر لوازماتو نه هم نهٔ وي خبر بس څهٔ کډې وډې اولیکي خپل وال نه ئې شئر کړي او خلک ورته بې دریغه واه واه کوي۔ د دې تذکرې د راتولولو وجوهات دا هم وو چې د ۱۹ مارچ نه تر ۱۴ اپرېل ۲۰۲۰ په دورانیه کښې کورونا لاک ډاون کښې کله مونږ د منګاه سره د مضافاتو له کبله متاثره شو او په کورونو کښې بند کښېناستو نو په دغه دوران کښې مې بلها قسمه ادبي تاریخي او مذهبي کتابونه رسالې وغېره اولوستل او په **pdf** کښې مې هم څهٔ نا څهٔ کتابونه د نظره تېر شول چې کله به د کتاب نه اوزګار شوم یا به مې زړهٔ موړ شو نو نټ به مې ان کړو فېسبک یوټیوب او وټس اپ باندې مې هم ښهٔ زړهٔ ستړے کړو ولې چې کور ناست وم بل کار مې و نه بس دغه مذکوره مشغلې وې ۔

په دغه دوران کښې ځینې کتابونه رسالې یا په یوټیوب او فېسبک د شاعرانو مرکې داسې هم وې چې ډېرې د کار او زیار او ستائینې وړ وې خو ځینې داسې هم وې چې ادب نه به ئې راله زړهٔ موړ کړو کوم ته چې نن سبا کسکرېزم وئیلې کېږي۔ په دغه خلکو کښې په خاصه توګه زما ګیله د مائیک او کېمرې والو نه هم ده ولې چې هر هغه کس ته شاعر وئیلې کېږي



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

څوک چې يو څو لفظونه رايو ځاۓ کړي او د شعر څۀ لږ ډېر رنګ ورکړي حالانکې هغه شېر (شعر) نه ګيدړ هم نۀ وي خو مائکونو واله ورله لګې دومره جنډه کړي او دومره واه واه ورته اوکړي چې غريب نه ځان ورک شي حال دا دے چې هغه په هېڅ هم نۀ پوهېږي او بيا خاص کر يو څو جينکې شاعرانې دي چې ..... بس نور تاسو ښۀ پوهه خلک يئ نو زۀ به څۀ اووايم خو هر سړے د نرګسيت ښکار دے نو ....

بهر حال د دې تذکرې د راټولولو اصل حقيقت هم دا دې چې د دغه کسکريانو خلاف مې ذهن ته دا خيال راغے چې د خپل وس مطابق څۀ کول غواړم خو څۀ اوکړم ...؟ د څو ورځو د سوچ نه پس مې ښاغلي عنايت الرحمٰن عنايت سره په موبائل اړيکې اونيوې او راز مې ورته ښکاره کړو چې زۀ خو **pdf** کښې د يوې تذکرې راټولولو اراده لرم هغۀ هم راسره سل په سل اومنله او سينه ئې اوټپوله چې زۀ هم درسره دې خدمت ته تيار يم. ما ورته وې د خپلو پېژندګلو يارانو دوستانو او کره شاعرانو نه ليکل راواخله بس هغۀ هم او ما هم څو ورځې پرله پسې د ملګرو نه ليکل راټول کړل او بيا مې پخپله کمپوز کړل او کتابي شکل ته مې راوستل چې نن ستاسو په وړاندې دے.

خبرې ډېرې دي خو خبرې چا ختمې کړې مختصر دا چې د هغه ټولو خاص او عام ملګرو د زړۀ له تله سمه ډېره مينه او مننه خوشحاله او بريالي ئې غواړم چا چې زما يا د عنايت په يوه يوه وېنا خپل قيمتي ليکل ماته حواله کړل او زما ارادې



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

ته ئې نهٔ صرف درناوې ورکړو بلکه عملي جامه اغوستو لپاره ئې هم راسره پوره پوره کومک اوکړو ... اللّٰه پاک نه دعا غوارم چې دا تذکره د پښتو ادب په خدمت کښې ګټور او سودمن اوګرځي ۔

☆☆☆

په ډېره مینه او درنښت

**حساس محمد زے**

۲۰۲۰ / ٤ / ۲۵



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# دا تذکره

څنګه چې تاسو ته پته ده چې شاعري د الله پاک ورکړه ده چې هر چاته ئې نۀ ورکوي او هغه کس چې د شعر الهام پرې کېږي د خدائے پاک یو ځانګړے انسان وي۔ شاعري د انسان د خیالاتو ائینه او د ذهني معیار د او توازن سرګندوُنه وي۔ د شعر په لوستو هر انسان په اسانه د شاعر د ذهنیت او شخصیت اندازه لږولې شي هم له دغې وجې نه شعر ته مونږ لفظي انځور وئیلې شوو۔ د الله پاک په فضل سره پښتنو کښې ډېر لوے لوے شاعران زېږېدلي دي چې د خپل شعري فن او هنر له کبله ځلنده ستوري دي او نومونه ئې له چا نه پټ نۀ دي خو کۀ مونږ په موجوده دور کښې د پښتو شاعرۍ معیار اولټوو نو په اوږو کښې د مالګې برابر هم نۀ دے پاتے۔ شعر ډېر خلک لیکي خو الهامي لیکل د نشت برابر دے البته داسې قام زېلي شاعران هم شته چې د خپل قام کلتور او پښتنې خاورې لپاره ئې خپل خوبونه حرام کړي دي خو نن دور د شوسل مېډیا دے کۀ اوګورو نو روزانه پرې د پښتو ادب جنازه وېستلې کېږي د نوې کهول شاعران د شعر په لوازماتو یوه رتۍ برابر هم نۀ رسي او د خپل فېسبک له پاڼې به روزانه یو یو کسکرزم غزل نشر کوي او ناپوهه ادبي نابالغه خلک ورته په " واه واه او ډېر ښۀ " نۀ ستړې کېږي۔ شاعران د قام سترګې ګڼلې شي خو نن سبا دا سترګې تقریباً تقریباً ړندې شوې دي۔

خبره نوره نۀ اوږدوم خو بس په دې کسکرېزم دور کښې د حساس محمدزي دغه هڅه چې تاسو ته د تذکرې په شکل



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

کښې د " ژوند له مینه ضروري ده " په نوم مخې ته ده ډېر د داد او ستائينې وړ ده په دې زيار حساس ته داد ورکوم او د هغه ملګرو هم نړی نړۍ مننه چې خپل قیمتي لیکل ئې مونږ ته حواله کړل امید لرم چې د ملګرو به دا کتاب ډېر خوښ شي ... ښاد اباد او بریالي اوسئ

♡♡♡

په ډېر احترام

**عنایت الرحمٰن عنایت**

۲۰۲۰ / ٤ / ۲۸



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner




# " پېژندګلو "

نوم حساس محمد زے لري استوګنه په لیاقت اباد حصاره (درګۍ منګاه) ضلع اشنغر کښې کوي ادبي تړون د " فضل ادبي سنګر درګۍ اشنغر " سره ساتي۔



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

خومره په ګرانـــه د ژونـد هــره یــوه لار وهمه
خپله سینه زهٔ د احساس پـه هــر ګـزار وهمه

اخـر به مات مې شي مرکنډ او ساه به بېلمـه زهٔ
د بغاوت چغې بـه ځانلــه ځـو پـــه دار وهمه

ښـهٔ ضرورت لرم خو نه مرغۍ بې کوره نهٔ شي
نــهٔ ورتـه بل پـرېـږدم نهٔ زهٔ دغـه چینـار وهمه

غوښې مې خورمه او د زړهٔ وینې مې څکمه پسې
یـــوه یـــوه لمحـــه چې ستا په انتظار وهمه

بـې روزګارۍ د هر سړي نظر کښې اوغـورځولم
ځمـــه درک چـرتـــه د ښـهٔ شانې روزګار وهمه

د زړهٔ پـــرهـــر په لپـــه اوښکو ښـهٔ تازه ساتمـه
د چا لـــوئي د ارمـــانـــونـــو پـــه ازار وهمه

حساسه لېږ خورمه خو ښـهٔ خورمه د دے قائل یم
د فن مـــانـــۍ کښې دېـــوالـــونـــه د معیار وهمه



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

وجود مې غوني شي او زړهٔ مې لا بوړنیږي پکښې
د تنهائۍ لــه کــوره څمــه ساه ډوبیــږي پکښې

د وینـو ډنـډ به مې د زړهٔ د پرهـر خنګــه اوچ شي
زما د سترګــو نـــه رودونـــه چې څخیــږي پکښې

خپلې سینې نـه د پـــرېوتې مانــۍ درز اورمـــه
د امیـدونـو دېـوالــونـــه دي غـورځيــږي پکښې

زهٔ او تهٔ ناست یو توره شپه ده داسې خوب وینمه
د کـــور انګڼ کښې رڼـا وینـم راکـوزیــږي پکښې

د محبت د ونــو بــڼ دومـره نـازک نـــهٔ دے خـــو
ستاسو وعــدې د ګلـو څانګې دي ماتیــږي پکښې

د ژونـد برجـونـه ستا د سترګـو پـه غـمـزه اډانـــه
تـورې تیـرې لـــه دغـــه بامـــه راخـورېږي پکښې

د دې کمـــرې نـــه د حساس وږم لا تـلـے نـهٔ دے
ستا د نامې زمـزمې اوس هم محسوسیـږي پکښې



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

چې د نامې ذکر محفل کښې دې چا اوتښنوۀ
زما د زړۀ ورغلے زخم ئې بیا اوتښنوۀ

د محبت امید مې ستا په لیدو ساه واخسته
د مایوسۍ تیرې ته پروت و رڼا اوتښنوۀ

پاړژنې شوندې تنهائي او اوښکې سترګې
ښکاري چې بیا دې زړۀ یادونو زما اوتښنوۀ

د محبت اظهار مې ځان سره کچه پیکه کړه
سترګې ئې ښکته کړې وښکے ئې حیا اوتښنوۀ

کوشش مې اوکړو خو اخر مې حوصله پرېوته
ستا د یادونو بڼ کښې زړۀ مې هوا اوتښنوۀ

اوس په ډیوه کښې مې اوبۀ بلیږي تېلو په ځائې
اودۀ نصیب مې د مورجانې دعا اوتښنوۀ

اوس خو به نور هم د حالاتو سره مخ شي حساس
لا خو د ځانه هم اوزګار نۀ و تا اوتښنوۀ



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

نـهٔ څکمه نورې مې د اوښکو پيالۍ هم کېښودې
د زړهٔ په سـر مې نـن د صبر پټۍ هم کېښودې

ستا هسې نشتـه اعتمـاد زمونږ په مينه ګنـي
ستا هـر قـدم تـه مو د زړونو ډالۍ هم کېښودې

د حوصلو څانګې مې څهٔ ستا بې رُخۍ ټيټې کړې
او څـهٔ پـه زمکـه د حالاتـو سيلۍ هم کېښودې

بيا هم په دې سيمـه سپـرلے د امن تا نـهٔ کـوې
په نذرانـه کښې کهٔ مو ډېـرې ځوانۍ هم کېښودې

ستا بېلتانهٔ کښې لا خور وور يمه راټـول نـهٔ يمـه
حالاتـو پنجې مې لا ښې پـه مـرۍ هم کېښودې

وخت احتساب غوښتـو نو ما انساني مـړو سـره
کاڼـي او بوټـي او مړې شوې مرغۍ هم کېښودې

تـشـه دعـا مې هغې نـهٔ کـړه د روزګار لپاره
زما جـولۍ کښې ئې حساسـه والۍ هم کېښودې



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

ستا د خپلوۍ په درد او غم کښې پــه سودا دومـــره شوم
د ځان احساس هم راتـــه نـــهٔ کېـږي تنها دومـره شوم

د تنهائۍ وېنـــو د وخــت دوړو کښې اوخـــورمـــــه
لاړم مبتلے شومـــــه روست شومـــــه قضا دومـره شوم

اوس بـه دې مخـه نيسم او بـــه هـــر جواب درکـــؤم
تــر تـــا در اورسېـــــدم زهٔ کـنـي رښـتيا دومـره شوم؟

ستا موجوده دارو مې نيم رنځ لـــه هم نـــهٔ دي پـوره
په وخت دې غور نـهٔ کړو اوس درنـــه سېوا دومره شوم

اول زما پـــه شا بـــه هـــر ســـري پـنـــاه اخستـــه
اوس وېم چې ساه واخلم کـهٔ پټ د چا په شا دومره شوم

د کېـــر چاپېره تيـرې هــر کـــزار مې اوخـــوړلـــــو
لــه هر اړخـــه مې ځان اوپېـــژنـــدو بيا دومره شوم

حساسه ړونـــد شومـــــه د يو مخ د ليـــدو پـه ارمان
بـې چېنـه هم شومـــه ظهيـــر وريسې لا دومره شوم



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner



## " پیژندګلو "

نوم ضیاء الرحمٰن شباب لري استوګنه په
وردګه سرډهېرو ضلع اشنغر کښې کوي ادبي
تړون د " اولسي ادبي سنګر سرډهېرو اشنغر "
سره ساتي۔



Scanned with CamScanner

# غزل

باقي زما او ستا تر منځ حساب و ؟ نه نو بيا
اخستې دې زما لاس نه ګلاب و ؟ نه نو بيا

وېريا شراب څوک نهٔ پرېږدي مواد خو درته ياد دي
راغلے په دې تول وطن سېلاب و ؟ نه نو بيا

د وخت د اوور په سترګو کښې دې سترګې اچولې
په لاس کښې دې بيرغ د انقلاب و ؟ نه نو بيا

په تيته تيته ملا چې د بچي انجام ته ژاړې
ورکړې دې په لاسو کښې کتاب و ؟ نه نو بيا

ټوپک چې شوندې پرانيزي ساګانې غلې کېږي
ملا صېب دومره جرم د رباب و ؟ نه نو بيا

د مينې او ښائست موازنه کوې لګيا ئې
په دغه مئينانو کښې شباب و ؟ نه نو بيا



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

ستا د وصال پــه وعــدو شک او اعتبار دواړه ښۀ دي
د ښائستـــونـــو چم کښې مینــه روزګار دواړه ښۀ دي

د تقدیـــر لیک دے چې د چا بــد وي وېزه دے وکړي
زمـــونـــږ لپاره خو وطـــن او دلـــدار دواړه ښۀ دي

ما او رقیب کښې ئې بس دومــــره امتیاز کــړے دے
د چا د ســــوال جـواب کښې ووئیل یار دواړه ښۀ دي

مــولانا دا ځــل چې عمرې لــه نــۀ ځي بد بــه کوے
خښکال خو ستاسو تمباکــو او کوکنار دواړه ښۀ دي

چې زۀ ئې یاد یمــــه زما لــــه پـاره دا ډېـــره ده
رېبـــاره مُچـــي را دعــــا او ازار دواړه ښـــۀ دي

مـــزدور وئیل چې سمـــه ډېــره مزدوري وي پکښې
زۀ پــه موسم څــــۀ کـــؤم کلے او ښار دواړه ښۀ دي

شبابــه دا دې لا د چــا پـــه فـــرمائش وېستے دے
پـــه دے تصویر کښې دې خندا او خومار دواړه ښۀ دي



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

لکــــه فـــرهاد مې محبت بانـدې اعتبار کـــړے دے
لکــــه منصور مې د حق غبږ په سر د دار کـــړے دے

په زمکه کرښې دي سیګرټ دے او شلېدلے تصویـــــر
په دې ګټ پېر کښې چا ښهٔ سترے انتظار کـــړے دے

دغـــه جـــدا ده چې وربشـــه لـــرم ساه اخلمـــه
ګـني هغـــهٔ رابانــدې ښهٔ د مرګ ګـزار کـــړے دے

په سور خزان کښې مې د شین سپـرلي ټپـه کـړې ده
ما پــــه ګلچین بانـدې هم زېــړے د ګلیار کـــړے دے

شونـــدې ئې تکې سرې لېمـــهٔ ئې سوربخن شبابـــه
حسن منے د نار پـــه زمکـــه ئې انـــار کـــړے دے



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

تـــهٔ د دې اولس معیار ګـــورې سړیـــه
ښـهٔ ساده ئې ځان لـه کار ګـورې سړیـه

د دې خلکو پـه بنجر بنجـر مزغـو کښې
انقـــلاب د پـــاره لار ګـــورې سړیـــه

تـــهٔ راوګـوره او لاس مې په زړهٔ کېـږده
کـــهٔ د خپل نظر ګـذار ګـــورې سړیـــه

دلته هر څوک د غـــرض په ټټـو سـور دے
تـهٔ د ځان په شان اوزګار ګـورې سړیـــه

د بـــارودو خلک لاړل پـــه موټـــر کښې
تـهٔ پاټـک باندې نسوار ګـــورې سړیـــه

مونـږه ستا په خه ژونـــدي او په نه مړهٔ یو
بس دې نور څومره اعتبار ګـورې سړیـــه

د شبـــاب د محبت نـــه انـــکار وکـــړه
تـــهٔ هغـــهٔ د پاره دار ګـــورې سړیـــه



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

چې ستا به په وښکو کښې مُسکا نهٔ پېدا کېده
زمونــــږه بــــه د ژونــــد تمنا نه پېدا کېده

یوسف و په بولۍ کښې ګني دا خبره نــهٔ وه
چې مصر کښې به نوره ښکلا نــهٔ پېدا کېده

چې چرتــه د حوس د تندَغـرو کار رَوان و
نو هلتـه بــه مجنون او لېلا نــهٔ پېدا کېده

مُلا کـهٔ په جانان او محبت کښې ګُناه وه نو
ادم سره بـه بیا دا هـــوا نــهٔ پېدا کېده

بچي مې راتــه وې د خان بچي ترېنه ویرېږي
کـهٔ دوي ته په بازار کښې بلا نــهٔ پېدا کېده

چې مونــږه پرې د مینې د امکان تعیُن وکړو
ستا سترګو کښې به دومره رڼا نــهٔ پېدا کېده

شبابـــه هلته تـولې وصیلې د زلزلـو وې
شبابـــه بس کهٔ نهٔ وه حیا نــهٔ پېدا کېده



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner



" پېژندګلو "

نوم عنايت الرحمٰن عنايت لري استوګنه په فضلِ اباد

منګاه ضلع مردان کښې کوي ادبي تړون د " فضل

ادبي سنګر درګۍ اشنغر " سره ساتي۔



Scanned with CamScanner

# غزل

ماتـــه پتـــه ده چې څـــهٔ رالـــه پکار دي
ستا د خلې جوتـــه اوبـــهٔ رالـــه پکار دي

ستا د وصـــل انتظـار دے نـــهٔ رغېـــږم
ستا د مـرو سترګـــو کاتـــهٔ رالـــه پکار دي

د رقیب پشانے سپک ســـرے خو نـــهٔ یم
د چا بـــد نـــهٔ وېم او نـــهٔ رالـــه پکار دي

نور مې هر څـــهٔ ښـهٔ پوره دي خو کـــهٔ لاړې
د دلـــدار ګـــرې رانجـــهٔ رالـــه پکار دي

چې کوم در ته منصور خېل وي راتـول شوې
دغـــه صف کښې اودرېـــدهٔ رالـــه پکار دي

بتخانـــه کښې مې پنځلس کالـــه تېر کـړل
اوس جومات ته تلـــهٔ راتلـــهٔ رالـــه پکار دي

د زړهٔ زخـم پـــرې ګـنـــدمـــه عنایتـــه
څـــو تېـــرهٔ تېـــرهٔ بانـــهٔ رالـــه پکار دي



Scanned with CamScanner

# غزل

کهٔ هـــر څومره د ژوند د خوږو چال نهٔ و ســـریه
زما په خلهٔ به هېڅ قسمه څهٔ سوال نـــهٔ و ســـریه

د دې تـــولې دنیا نه ګېر چاپېره تاو راتاو شـــوم
د دې دنیا پرستـــو هېڅ کمـــال نهٔ و ســـریه

د هـــر ځائ ښکلي ښکلي راغوند شوي وو منم خـو
زمـــا د پښتنې خـــاورې مثال نـــهٔ و ســـریه

زمـــا هـــره وېنـــا صحیح زمـــا هـره خبره
د کار وه خـو بس ستا به ورته خیال نـــهٔ و ســـریه

زما او ستا د عشق قیصې په دې وجـــه خورې شوې
دېوال پورې غوږونـــــه وو دېوال نـــهٔ و ســـریه

زمـــا ئې په ژړا ژړا د ستـــــرګو کاتي اوچ کـړل
رومـــال دې د رومال په شان رومال نـــهٔ و ســـریه

پښتون ومـه تش نوم مې هم اغیارو لــــه کافي و
زما سره کـهٔ توره نـــهٔ وه ډهال نـــهٔ و ســـریه

ښکاره د چـــا پـه غم کښې عنایت و چې ژړل ئې
جـــړی نـــهٔ وه باران د پشـــکال نهٔ وو ســـریه



Scanned with CamScanner

# غزل

راځــه کنــه چې اولــېږي الــزام پــه ما او تــا
بس دغــه يو نشــه ده چې حرام پــه ما او تــا

زما او ستا پــه مينــه کښې کــۀ لــړه درغلي وي
حــــرام دې شي جانانــه دا ماښام پــه ما او تــا

دا ښکته تلۀ ډېر ښۀ وي خو ډېر ښکته تلۀ ښۀ نۀ وي
څوک کښېنۀ ږدي جانانه چرتــه کام پــه ما او تــا

يقين مې دے چې تولــه مېخانــه به دواړه اوڅکو
ساقي کــۀ چا پــرزو کړلــه تمام پــه ما او تــا

دا وخت د بېلتانــۀ څومره پــه گرانــه مو تېريـږي
يادونــه محفلونــه هــر ماښام پــه ما او تــا

حالات راتــه پــه برنــدو سترگو بيا دي عنايتــه
ژوندون خو راتنکېږي کام پــه کام پــه ما او تــا



Scanned with CamScanner

# غزل

زمـــا بـــه زړۀ هلــه ارام واخلي
چې يار زمــــا د خُلې سلام واخلي

هغــــه مجبـــوره دے زما نه اخـــر
د څـــۀ خبـــرې انتقـــام واخلي

وخت به يزيد شي مـــاته څۀ پته وه
زمـــا د لاســـو نه به جـــام واخلي

کۀ بې له خدايه چـــا وبا ختمه کـــړه
رادې شي مـــانه دې انعـــام واخلي

درته به راولـــم مېـــرمن د جـــبر
څوک خو دې ما پسې يو ګام واخلي

منـــم چې ورکـــړي عنايت له مينه
خـــو پـــه بدل کښې ترې ارام واخلي



Scanned with CamScanner

## غزل

زهٔ درکـــوم خـــواږهٔ یاره
تـــهٔ راکـــړې تراخـــهٔ یاره

ماتـــه خو شـــراب ښکاري
ستا د خلـې اوبــــهٔ یاره

سترګې دې پرې تورې کـــره
دا واخلـــه رانجـــهٔ یاره

تهٔ زما پـــه څنګ کښې ئې
نـــهٔ غوارم نـــور څـــهٔ یار

تا له بـــه غـــوزان راوړم
خېژمـــــه پـــه غـــرهٔ یاره

نېغ مې په سینـــه کښې ځي
ستا کـــاږهٔ بـــانـــهٔ یاره

ما باندې څـــهٔ چل کـــوې
مـــرهٔ مـــرهٔ دې کاتـــهٔ یاره

اوکـــره عنایـــت ســـــره
څو ورځې ژونـــد ښـــهٔ یاره



Scanned with CamScanner



" پېژندګلو "

نوم عادل خان عادل لري استوګنه په اکبر اباد ملټري فارم سره نیزدے ضلع مردان کښې کوي ادبي تړون " فضل ادبي سنګر درګئ اشنغر " سره ساتي۔



Scanned with CamScanner

# غزل

سپینو اوښکو کښې ککړ، دا رانجه دي که کجل
اننګو باندې په شړ، دا رانجه دي که کجل

د ارمان په مرۍ ښخ ستا مزوب بانه
په سرو وینو کښې چقړ، دا رانجه دي که کجل

دواړه دي له رنګه تور، زۀ په دواړو دهوکه کېږم
مړې زۀ شوم درته پړ، دا رانجه دي که کجل

لکه لېږ غشي راښکلي ، لکه ډېر غشي راښکلي
څۀ واړۀ دي او څۀ لوړ، دا رانجه دي که کجل

په تیارۀ کښې لا ځلیږي د فراق د اسمان ستوري
پکښې ښکاري ښۀ لغړ، دا رانجه دي که کجل

د پېریانو جالکۍ دي چې راګوري نو ما زوري
رنګ مې زیړ شي کله خړ، دا رانجه دي که کجل

ستا عادِل چې ئې خوړلے، ستا عادِل چې پرې مئین دے
ستا عادِل چې پرې دے مړ، دا رانجه دي که کجل



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

چې شو پاتې کـــهٔ پـــه لار دے د گـــرۍ د ستنې تک تک
تـــوره شپـــه شـــوه انتظار دے د گـــرۍ د ستنې تک تک

زما اوښکې غزل گـــو شوې ستا د نـــهٔ راتلو لـــه ویرې
ســـاز راخستـــے د ستـــار دے د گـــــرۍ د ستنې تک تک

ستا تصویر مخې ته پروت دے ورتـــه سره شمع بلیـــږي
یو انگـــور دے بل انـــــار دے د گـــــرۍ د ستنې تک تک

مـــره داسې چې تـــهٔ بېرتـــــه بیا زما پـــه لارو راشې
مـــره داسې ژونـــــد پکار دے د گـــــرۍ د ستنې تک تک

ستا وعـــدې لره پېغور دے زمـــا سترگې شولې ښکتـــه
ستا د نـــــهٔ راتلـــو اظهار دے د گـــــرۍ د ستنې تک تک

ستا عادِل ســـتا انتظار کړي د تېر وخت په تمه ناست دے
لـــږ کـــم عقل ډېر هوښیار دے د گـــــرۍ د ستنې تک تک



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

تا کړے دے په ژوند کښې کوم یو کار داسې چورلټ
چې مات دې زما زړهٔ کړو تک د وار داسې چورلټ

په سرو سرو اننګو د اوښکو لار داسې چورلټه
ابشار دے رابهیږي په انکار داسې چورلټ

څهٔ عذر ورله اوکوري خبر څهٔ نه څهٔ بانه کړي
ظالمې څوک خو نهٔ کوي انکار داسې چورلټ

دا سترګې دې بیخي د چا خاطر نهٔ کړي جانانه
دا سترګې دې بیخي کوي ګزار داسې چورلټ

زما او ستا د مینې اخرې نښه نومونه
رېبلے چا په خته دے چنار داسې چورلټ

د ژوند د دائرې منځ کښې مو مرګ لیکلے شوے
تاویږو ترې نه مونږ لکه پرکار داسې چورلټ

نهٔ یو کړه او نهٔ بله وې عادِله درنه لاړم
نو ولې، او په څهٔ، مره اخ یار داسې چورلټ



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

څومره ښکلې ده خــوږه ده پاکــه خاکــه
زمونــږ ژبـــه پښتنـــه ده پاکــه خاکــه

دا د داغ لائقــه نــهٔ ده مسلمــان يــم
دا په تن چې مې جامــه ده پاکــه خاکــه

نــه پــه مينه پــه اسلام کښې وژل نشتــه
دا جينــۍ ګــورې پخــه ده پاکــه خاکــه

لېونتــوب تــه يکښې پير ســرے رسيــږي
مينه ځانلــه يو جذبــه ده پاکــه خاکــه

د مېــړي درک هم نــهٔ لــږي پـــه زمکــه
چې زهٔ راغلم ستا کوڅــه ده پاکــه خاکــه

ارمانـــونـــه مې وردانګي يکښې لامبــي
د رنـــو اوښکـــو چينــه ده پاکــه خاکــه

يو عادِل دے چې سم ځان وريسې وژنــي
يو جينۍ ده چې پرې مـره ده پاکــه خاکــه



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

خوبونه مې سور اوور وو او تعبیر اوبهٔ اوبهٔ
په تته ائینه باندې تصویر اوبهٔ اوبهٔ

په پاڼو د ګلاب پرته ده پرخه څاڅکے څاڅکے
کهٔ ستا په اننګي باندې لکیر اوبهٔ اوبهٔ

د ژوند له دېرو دشتو نه راتېر شوم تاله راغلم
شوم سترے شولو مات مې د ملا تیر اوبهٔ اوبهٔ

په زړهٔ ئې د دیدن تمه راوړې ده ور اوځه
دا چغې کورې هسې وی، فقیر اوبهٔ اوبهٔ

په غاړه کښې د چا د لاس زنځیر را اویزان
په سترګو کښې د چا د تللو ویر اوبهٔ اوبهٔ

وئیل ئې ستا د دوه ورځو د مینې څهٔ قیمت دے
وئیل مې ستا د دوه ورځو جاګیر اوبهٔ اوبهٔ

ما غږ ورکړو نو مور ئې وئیل څهٔ غواړې عادِله
له ویرې مې د خلې اووت سرګیر اوبهٔ اوبهٔ



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner




# " پېژندګلو "

نوم زاهد خاموش لري استوګنه په پهندو
چوک پېښور کښې کوي ادبي تړون د " الفت
پښتو ادبي جرګې " سره ساتي۔



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

د ګل پیشانۍ ښکلې دې بې شانــــه داسې دې
بس ځان تــه ګــوره هو به هو جانانــه داسې دې

راځــه د جانان غمــه حېرانېــږې ورتــه ولې
د زړهٔ کــنــدر خو وران مې د پخوانــه داسې دې

زهٔ ګرم یمه په دې کښې د هغهٔ څــهٔ ګناه نشتــه
دا ښکلې خــو وران شــوې هم زمانــه داسې دې

کــهٔ رانغلې یقین وکړه چې ساه به ترېنــه اوځي
پــه تا پسې هغــه خو پــرېشانــه داسې دې

خاموشــه چې تــر منځــه اتفاق زمونــږه نشتــه
پښتون ځکــه په هر ځائ کښې ارزانه داسې دې



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

د کابل نـــه تـــر اتکـــه جنگ شـــروع دے
ځــه چې ځو کنه هلکـه جنگ شـروع دے

پښتـانـــهٔ ئې درلـــه تـــول غلامان کـــړي
زر راپـــاسېږه ختکـــه جنگ شـــروع دے

پـــه اسمان کښې هم درزا ده د بمـــونـــو
او کهٔ نه صرف په زمکه جنگ شـروع دے

تول عالم پـــه تماشـه دے ورتـــه ګـــوري
د پښتون په یو کونجکـه جنګ شـروع دے

عملونـــه مو صحي نـــهٔ دي خـــامـــوشـــه
په وطن باندې مو ځکـــه جنـګ شـروع دے



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

پــه سترګـــو کښې نشې او خمارونـــــه وړي روړي
نـــــو خامخا زما نـــه بـــه خوبونـــــه وړي روړي

دا څوک دي د تـول عمـــر جـل وهلي راتـــه ښکاري
ساقي ورلـه بې درېغـــه چې جامونـــه وړي روړي

ښۀ پوې يمه په نن دور کښې هېڅ ترې نـۀ جوړيـږي
بچي مې هسې سکول تـــه کتابونـــه وړي روړي

نن بيا د پېښـــور د زړۀ پــه ســر دهمـــاکـــه شوې
نن بيا خـلک لـکيـا دي تـــرې لاشـونـــه وړي روړي

خاموشه ستا په ما باندې يـو ګل هم پـــرزو نـۀ شو
دا خلک خو يو بل تــه ســرۀ ګلـونـــه وړي روړي



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

مړ را ژوندے شمه پرې راشي را کښې سا صاحبې
تهٔ راته وکړه لږ په سرو شونډو مسکا صاحبې

تهٔ ئې چې يو لحظه د بام په سر را اونهٔ ختې
زهٔ يم چې ما در پسې پرېښې ده دنيا صاحبې

د وصال شپه ده هله شابه را خوارې کړه زلفې
ستا د رېښمينو زلفو واخلمه بلا صاحبې

زهٔ ښهٔ خبر يم ما به رنځ د عاشقۍ اووژني
خو دا زما د مرګ دعوه به وي په تا صاحبې

ماته خاموشه خاموشي له شوره ښه ښکارېده
ما ځکه خوښه کړه مجنون غوندې صحرا صاحبې



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

منمه چې پردے دے کۀ مې خپل نۀ کړو نو څه
کۀ دا ښکلے مې ځان پسې پاګل نۀ کړو نو څه

باچا د یوې ورځې بادشاهي راکړه بیا ګوره
کۀ پاک مې د شین سترګو نه کابل نۀ کړو نو څه

شاعر یمه د وخت په تقاضه باندې پوهیږم
کۀ وخت سره مې دا اولس بدل نۀ کړو نو څه

دا یاد ساته بې ننګه یاره تۀ کۀ ئې بیا یاد کړې
دا زړۀ کۀ را بهر مې د ګوګل نۀ کړو نو څه

لږ صبرا چې رنګونه د سپرلي دا ځلې راشي
کۀ دا ځل مې تصویر ستا مکمل نۀ کړو نو څه

خاموشه ستا خوږې خبرې ملغلرې
خاموشه کۀ مې جوړ ترینه غزل نۀ کړو نو څه



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner



# " پېژندګلو "

نوم کامران دانش لري استوګنه په لوند خوړ ضلع مردان کښې کوي ادبي تړون د " لوند خوړ ادبي مرکز (لام) " سره ساتي۔



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

کــۀ د کانــدي او د جنــاح نظــريــي دواړه تیک دي
زمــا پـــه خیال بیــا د دنیــا نظریـــې واړه تیک دي

حقیقتـــونـــه د مـــذهـب د عقیـــدو پـــه وړانـــدې
پـــه مهـــذبـــو کتـــابـــونـــو کښې رانغـــاړه تیک دي

د چـــا د پـــاره دریـــابـــونـــو لـــه سینې اوشلـــوه
څـــۀ مخلـــوقـــات خو مکمل د اوور په غاړه تیک دي

ستا دلالۍ نه ځار شم څۀ به اوکړې ځان به خرڅ کړې
څـــو دلالانـــو پسې تـــۀ هم کـــده نغـــاړه تیک دي

څـــۀ چې زۀ غـــوارمـــه زما دپـــاره شور کفـــر دے
څـــۀ چې تـــۀ غواړې ستا دپاره دي تۀ غواړه تیک دي

تمامـــه ورځ نـــمر تـــه سجـــدو باندې تنـــدے سولـــوه
شپه کښې سپوږمۍ ته او بلها ستورو تـه ژاړه تیک دي

کامـــرانـــه تولـــه سرمایـــه مې په یو ښکلي باج کړه
ماتـــه ئې هسې د اظهـــار خـــبـرې ژبـــاړه تیک دي



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

د خپلې عقیدې نـــه چې منـــکـــر پاتې کېدم
بیا سم د کـونـدې شال وم در په در پاتې کېدم

نه نه یار داسې نـــهٔ وه چې کافـــر پاتې کېدم
خو دومره قدرې وه چې ستا په سـر پاتې کېدم

دې نورو محـــترمو به پـه خپلو اوګـو بار کړم
د هاغـــه محـــتـــرم نه به اکثـر پاتې کېدم

بې وســه وم نو ځکـه خو د ورکو خلقو یار وم
پښتـون وم ګناهګار ومــــه په غـر پاتې کېدم

چې ستا د عقیدو خلقو په زمکه کښې دفن کـړم
بیا خامخـــه بـــه تـاتــه ستا آزر پاتې کېـدم

کهٔ دې انسانیت کښې مې ځان نه وې ورضم کړې
کامرانـــه پـه خدائ چې مختصر پاتې کېـــدم



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

دا خپل وجود په بلها زړونو کښې سنبال ساتمه
لــه خپل اولاده ډېر د بل د بچي خیال ساتمه

په کائنتـه تار مې دېــوالونه د کور سم اوبنـل
د اوسني انسانـــه ځان څــهٔ پــه کمال ساتـمـه

ناصحــه ستا شان لباسي عقیده نـــهٔ لـرمــه
ځان همېشه لـه خواهشاتو نــه کنګال ساتـمـه

څـهٔ لیونے یمه د ښکلی زړهٔ لــه پیــره غواړم
څـهٔ لیونے یمــه زیارتې کال پــه کال ساتــمـه

د پښتنو او د حسینو کور په ګــرانــه کېـږي
تــهٔ به ښائست ساتې او زهٔ به مې جلال ساتمـه

شر خوښے نهٔ یم خو د خاورې د بقا په خاطــر
لا کور کښې توره ساتم زغره ساتم ډال ساتــمه

ځار زمانې په داسې مـــــوړ دي اودرؤلې یمه
حجامتونه د بنګـړو په وار کښې سیال ساتـمـه

کامرانــه هر څـو کـهٔ ښارونو باندې اوګرځمــه
خو دا مې واوره چې فطـرت به کلیوال ساتــمـه



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

ستا په لاسو کښې یاري وه عارضي وه
د وطن حکمراني وه عارضي وه

که دینداره نهٔ وم بیا هم د ربّ خوښ وم
ستا سره مسلماني وه عارضي وه

چې د شونډو په سرونو به پُخلا شو
دا ئې لویه کمزوری وه عارضي وه

د اختر په شپه مې زهر په سلګو څکل
څهٔ حسینه مې ځواني وه عارضي وه

چې خندا ئې بې قیمته وه مدام وه
خلهٔ ئې ډېره قیمتي وه عارضي وه

هر ژوندون به پکښې هېڅ بې حسه ښهٔ وو
داسې ښار کښې زندګي وه عارضي وه

آبادی خو د اسلام اسلام آباد وه
چې په مونږ مهرباني وه عارضي وه

نو کامرانه د څو ښکلو ځارېدم به
د بتانو بندګي وه عارضي وه



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

د ژمي شپه خوارهٔ یـــاران او د سکرتـو لوګے
څو فرښتې د اوګـو تـــوان او د سکرتـو لوګے

ژوند حقیقت ارمان ناکام او زهٔ بېخي بې اسرې
ښهٔ سرتور سر ښهٔ بیابـــان او د سکرتـو لوګے

یخ دسمبر یخه کوټـه تش بالختونـه پـراتــهٔ
یو مړ وجود په ما تـــاوان او د سکرتـو لوګے

زړونه خفه حوصـــلې تتې پښتانـهٔ په لړزان
لکه چې وي یو څو ځوانـان او د سکرتـو لوګے

زما په ژوند کښې دا یو څو څیزونه ښـهٔ قیمتي
کـتـاب او چـــې او شاعـران او د سکرتـو لوګے

کامــــرانـه دومره امیدونه رانه مهٔ ساته یار
ماسره څـــهٔ دي خو یو ځان او د سکرتـو لوګے



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner



# " پېژندګلو "

نوم حارث نادان لري استوګنه په پړانګ سافرخېل کلي ضلع چارسده کښې کوي ادبي تړون " ګران بابا پښتو ادبي جرګه پړانګ ماجوکي، اول خان رسوا پښتو ادبي جرګه ترنګزی، رڼا پښتو ادبي ټولنه امارات " سره ساتي.



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

ترمې اوښکې او ښېرې پکښې حساب کړه
هغه ويښې ويښې شپې پکښې حساب کړه

که خبره په حساب کتاب ختمېږي
زما واړه شوګيرې پکښې حساب کړه

په هر ګام د ازمېښتونو د بلا خله
د وخت ټولې خاطرې پکښې حساب کړه

که ئې رنګ ته ګورې بيا ئې ترې بهر کړه
که ئې خوي ته ګورې دے پکښې حساب کړه

دې نصاب له خو لږ رنګ د پښتو ورکړه
باچا خان غوندې سړے پکښې حساب کړه

خبردې دا وطن دې ستا په نوم يادېږي
خو زما يو څو قيصې پکښې حساب کړه

د پښتو ادب په دغه لوې درياب کښې
د نادان هم څو قطرې پکښې حساب کړه



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

ازار بــه واخلې د هغې نــه بېرتــه مـهٔ ستنېږه
د چا د اوښکو د جرګې نـــه بېرتــه مـهٔ ستنېــږه

زه هم ارمان لرم خواهش لرم ژونـــدی ساه يمـه
وختـه زما د دروازې نـه بېـــرتـه مـهٔ ستـنېـږه

چرتــه پــه دې سپېرهٔ مخونـو هم خندا راولـه
د دې زړهٔ سترو د کوڅې نه بېرتــه مـهٔ ستـنېــږه

غمه په تا ژوندے يم تـهٔ خو مې بېخي مـهٔ پرېږده
زما د زړهٔ د اديــرې نــه بېـــرتـه مـهٔ ستـنېـــږه

اختـــلاف ولـــره تنقيـــد وکړه ستا حـق دے منم
خو د اخلاقو دائـرې نـــه بېـــرتـه مـــهٔ ستـنېــــږه

د خپل مـــرام پــه لوري پښې د اميـــد تاندې ساته
د پردي ښار د سرې غرمې نه بېرتـه مـهٔ ستـنېـــږه

په هر قــدم د وخت جابر تـــه لکـه غـــر اودرېـــږه
د حق غوښتلو د جذبــې نـه بېرتــه مـهٔ ستـنېــږه

نور په هېڅ نـهٔ يمـه خو ستا بې ايماني مې وژني
تـهٔ مسلمان ئې کليمې نـــه بېرتـــه مـــهٔ ستـنېـــږه

نادانــه پــوخ يقيــن پــه عـــدمِ تـشـدد اوساتـــه
د دې سپېڅلې عقيــدې نـه بېرتــه مـــهٔ ستـنېـــږه



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

د لغړ احساس جامه یمه خالقه
د خیرن نظر پرده یمه خالقه

ګني ما باندې به هم دا ستا نظر وي؟
ګني زۀ هم ستا بنده یمه خالقه؟

په جوټه مې زوړ هندو مسلمانېږي
خو د زړۀ نه ډېر ګنده یمه خالقه

د خپل ذات دننه څو ځایه تقسیم یم
ماته شوې آئېنه یمه خالقه

د پښتو په روایاتو ښۀ پوره یم
کۀ جمات یم کۀ حجره یمه خالقه

لکه غنه د وخت سترګو کښې غړېږم
سپین رښتیا وایم پیکه یمه خالقه

د زړۀ سترې وطن خوار و زار وګړے
د تور مخو سرمایه یمه خالقه

د وخت جبر پانې پانې کړم نادانه
د باچا خان نظریه یمه خالقه



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

ما د وحشت د بلا دومره ننداري وکړې
چې په رڼا ورځ مې تيارۀ تيارۀ نعرې وکړې

په تربوزک کښې دا ټوپک په لاس هم تۀ وې کنه
وژل کېدم خو ما ښکاره جاره قيصې وکړې

هر سړے پړ تر خپله وسه دے تا هر څۀ وکړل
ما درته بس د هاغه ذات در کښې ښېرې وکړې

بې خوندي ټوله مې له سترګو په ګرېوان پرېوته
ما ته نن ښې ډېرې خبرې آئينې وکړې

بد ګماني ده ګني نور څۀ تلي څۀ راغلي
زما او ستا تر منځ درېمګړي ښۀ مزې وکړې

نادانه چا ګلان راوړل د خپل بابا قبر ته
چا د تنکو تنکو ګلونو جنازې وکړې



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

ورتــه مې ښـۀ وژړل مـــا ورتـــه ښېره هم وکړه
بیـــا مې د مــــړ وجود په خپلــه جنازه هم وکړه

ځار مصیبتــه هــر سړے دے را په ګوتـــه کړلـــو
ځار مصیبتــه ما د خپـــل درد تماشــه هم وکـړه

د خپـــل مـــذهب او خپل کلتور په دائـره دننـــه
ما کــــۀ اذان وکړلـــو ما ګـــورې ټپـــه هم وکـــړه

ما د وختونـــو د تیـــرو په زد ډیـــوه بلـــه کـړه
ما د وختـــونـو د فـــــرغـــون مقابلـــه هم وکـــړه

د خپل باغي فکـــــر لمنـــه کښې مې ونغښتلـــه
د وحشت ښار کښې مې سپرلیه ستا قیصه هم وکړه

حارثـــه چـا پکښې قیمت د خپـــل ایمـــان لګـوۀ
چا د وختـونـو دې خدایانو تـه سجـده هم وکـــړه



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner



# " پېژندګلو "

نوم عدنان خيالي لري استوګنه په زره خېله
شموزئ تحصيل بريکوټ ضلع سوات کښې کوي
ادبي تړون د " غورځنګ ادبي ټولنه شموزئ
سوات او مساګه ادبي جرګه پښتو خانګه ملاکنډ
پوهنتون " سره ساتي.



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

په خپل جاګيـر مو هم خاني او نۀ کړه
په ګل وطن کښې مو ځواني او نۀ کړه

ايمان راوړے پرې هـر چا لـه زړۀ نـه
فېصلـه چا پـرې اسماني او نـۀ کړه

ما سرحدونه محـدود نـۀ غوښتلـه
ما پکښې ځکـه ځان ځاني او نـۀ کړه

پـه ګفتار تـول د باچا خان پېـروکار
پـه کـردار چا باچا خاني او نـۀ کړه

هـر چا تـرې ځان له معنې اووېستلې
چا مې د خيال تـرجمانـي او نـۀ کړه

خيالي دا لر او بر بـه څنګ يؤ کېـږو
خبـره چا هـم ايمـانـي او نـۀ کړه



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

د بېلتانهٔ غشي په خپل ځيګر خوړل ګناه ده
کهٔ نه تر تا پورې اشنا در رسېدل ګناه ده

مونږ مینه وکړله د داسې پاکبازانو ښار کښې
چرته چې بحث کؤل کفر دے کتل ګناه ده

خدایه په خپل فضل کرم مې له اوورونو خلاص کړه
زما نېکۍ خو ډېرې وروسته دي اول ګناه ده

زهٔ دا منم چې وجودونه خرخول ښهٔ نهٔ دي
خو ضمیرونه خرخول بیا یو په سل ګناه ده

ورشه خيالي چرته تپوس خو د ملا نه وکړه
د مات بتانو ځلي زړونو کښې ساتل ګناه ده



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

منم چې هر طرف تــه ښـکلاګانې وې نو بس
زمونږ خو په نصیب کښې ژړاګانې وې نو بس

ساده وو د جهان پـــه سپین مخونو غولېـدلو
په زړونو مـــړه تـــورې بـــلاګانې وې نو بس

پېســـه ئې ورکولـه خو ځواني به ئې تروړلـــه
د ښـار هم خـــهٔ عجبــې سزاګانې وې نو بس

تـهٔ لرې وې بچیــه نو ما څهٔ کړے وې ځار شم
زما ســـره خـــو دغـــه دعـــاګانې وې نو بس

ملا پکښې څهٔ ذکر د دوزخ وطن او نـــهٔ کـړو
جنت و او د حـــورو اداګـــانـــې وې نو بس

د خلکـــو سره ډېر خهٔ وو یو بل له د ډالو خو
خیالي سـره یـارانـــو خـنـداګانې وې نو بس



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

زۀ داسې نـۀ وېـم چې ځان مـۀ راسـپـړه
خـو د غمــونــو پـېـريـان مـۀ راسـپـړه

زمـا د زړۀ جـونـگـره مـۀ ورانـوه
د خپلـو اوښکـو بـاران مـۀ راسـپـړه

زلـفې خـورې نـۀ کـړې هم داسې ښې دي
بې اجـازې يـم مـاران مـۀ راسـپـړه

د يار پـه چـم کښې بـه غوغـا جوړه کړي
لېـونـے شـوے ارمـان مـۀ راسـپـړه

مـا تـه د دې خلکـو ايمان معلـوم دے
زما دا خلـۀ پـه ايـمـان مـۀ راسـپـړه

راځه چې خپل گريوان کښې سر ښکته کـړو
جهان بـه پرېـږدو جـهـان مـۀ راسـپـړه

زمـونـږ پـه خاوره خونـرېزيانې کـوي
صېبـه ساتـلې لېـوان مـۀ راسـپـړه

تا لـه ئې ځـۀ خـوارۀ درکـړي خيـالـي
بس کـړه قيصې د جانان مـۀ راسـپـړه



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

ځواني خو لاړه چا ته اووایه چې نه دې راځي
بس کبـــرژن اشنا تـه اووایـه چې نـه دې راځي

زهٔ پرې د چا نـــه خپل غمونـه پټـــؤلې نـه شم
د نا خوالې خنـدا تـه اووایـه چې نـه دې راځي

د ننګولا خویندې خفه دي د خپل ورور په بېلتون
مـــلا بهـادر مـــلا تـه اووایـه چې نـه دې راځي

زهٔ بـه قــلار شمه په زړهٔ به لویه تیکـه کېـږدم
تـهٔ د بنګړو شرنګا تـه اووایـه چې نـه دې راځي

زما بچي ئې ما نـــه غواړي زما وس کښې نـه ده
د خپـل محـل رڼـا تـه اووایـه چې نـه دې راځي

د وخت فرعون کـهٔ د خپل جبر نه توبه اووېستـه
ربـه بیا خپل موسیٰ تـه اووایه چې نه دې راځي

هغه چې ساه شریکه نـهٔ کړلـه په ژوند څهٔ کؤوم
خیالي اوس خپلې ساه ته اووایه چې نهٔ دې راځي



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner



# " پېژندګلو "

نوم زېن الله زېن لري استوګنه بخشالي ضلع مردان (حال سعودي عرب رياض) کښې کوي ادبي تړون د " ساهو پښتو ادبي تولنه بخشالے . ادبي دوستانو مرکه مردان او پښتونخوا ادبي ستوري سعودي عرب رياض " سره ساتي.



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

## غزل

کــهٔ زهٔ دې اولیــدم د زړهٔ پـــه سترګو
پورې به نکــړې بیا رانجــهٔ پـــه سترګو

چــې زمــا خــوږ ګوتــه چا اونـــهٔ لیده
دا خلــک دومــره شو ړانــدهٔ پــه سترګو

زمــا لـــه مخــه ستــرګې نـــهٔ اړوې
څــهٔ دې لیدلي دي کــهٔ نــهٔ پــه سترګو

څـــهٔ اشارې ورتــه پــه لاسو کــؤم
څــهٔ په سرو شونډو کؤم څـهٔ په سترګو

پــه یـــوه خــوشې لار روان ومـــه زهٔ
خو ښــه وه راغلهٔ پښتانــهٔ پــه سترګو

په هغـــه ځــاۓ بــه غلے پاتې شومــه
کـــهٔ بــه مې بد اولید کـهٔ ښهٔ په سترګو

هغې ویل تا پـــه ما کښې څـــهٔ لیـدلي
ما ویـل مئین دې یمـــه زهٔ پـــه سترګو

یه خدایه در کښې به دي څهٔ کم شي نو
دا خلک لــږ شان کره مارهٔ پـــه سترګو

یـــه زړنــه داسې وخت راغلے وو چې
قات و چا نــهٔ لیـدل اورهٔ پـــه سترګو



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

د دې تاؤ شـــوې دائرې نـه چرتــه لاړه نشې
ځار شم زما د حافظـې نـه چرتـه لاړه نشې

تــهٔ دلته ودرېـږه ښه زهٔ دې يؤ تصوير اخلمـه
زمـــا د سترګو د کېمـرې نـــه چرتـه لاړه نشې

لـه دغـه وېَرې مې لاسونه پـه سينـه اېښې دي
زړهٔ نه مې اونهٔ ځې سينې نه چرتـه لاړه نشې

زما د هــر ارمــــان په ځلي فـاتحـه اولـولــه
زمـــا د يـــاد د اديــرې نــــه چـرتــه لاړه نشې

دلته کښې هر څـهٔ ازده کېـــږي په اسانه ژبـــه
د محـبـــت د مــدرسې نـــه چرتــه لاړه نشې

زېن بـه هر وخت لکه سايه وي تاسره محبوبې
خو ګورې تهٔ د دې سائې نـــه چرتــه لاړه نشې

سرور ليوالـه کړه خپل ځان تـه خمار وپسخوه
د زېـن د عشق د مېکـدې نـه چــرتـه لاړه نشې



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

چې په سینه باندې مې مار و او کـۀ ځـۀ بلا وه
کـــۀ نـه دا ستا د زلفو تار و او کـــۀ ځـــۀ بلا وه

دنیا مې هېره وه خو بیا بیا بـه مې لار تـــه کتل
چې دا مې تاتـــــه انتظار و او کـــۀ ځـــۀ بلا وه

ښـــۀ روغ روان ومـه یکدم لار کښې راپرېوتمـــه
چې راپسې د چـــا ازار و او کـــــۀ ځـــۀ بلا وه

د خلقو مخکښې دې په سور ګلاب ویشتلے یمـــه
دا دې اقرار و کـــۀ انکار و او کـــۀ ځـــۀ بلا وه

هغې په سترګو کښې وېل راشه خو زۀ نۀ ورتلمه
زېنه چې ماسره ئې کار و او کـــۀ ځـــۀ بلا وه



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

د رب په شان یؤ څــو خبـــرې کوو
پــه دې اسمان یؤ څــو خبـــرې کوو

راځــه قربــان یؤ څــو خبـرې کوو
په باچــا خان یؤ څــو خبـرې کوو

تاسو لــږ دېخــوا شئ مننه بــه وي
زهٔ او جــانان یؤ څـــو خبـــرې کوو

دا ښکــلي ولې دومــره کبـــــر کــوي
په دې عنوان یؤ څـــو خبـــرې کوو

د خپل منزل لاره تـرې تل ورکــه وي
په دې کاروان یؤ څـــو خبـــرې کوو

راځــئ قیصې د ښائیستــونــو کـــوو
په سور پېزوان یؤ څـو خبـــرې کوو

زېنــه راځــه لاره بـــه هــم لنـډوو
یُــو بــه روان یؤ څـــو خبـــرې کوو



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

ګناه مې وکــړه او پــه ځان مې ګواهي هم وکــړه
ســره د پــوهــې مې دا لويــه ناپوهي هم وکــړه

د کــور نـــه لــرې د وطـن او د جانان نــه لـــرې
ما په تکليف کښې په دې ښار کښې زندګي هم وکړه

زمــا او ستــا قيصـــه چې لاړه د دنيا غــوږو تـــه
کۀ روغ ســـرې وکړه نو ګــوره ليوني هم وکــړه

د ورځې کار ماسخوتن ستا او شپـه د خــوب د پاره
ما په اول ځلې په ژونــد کښې پابنــدي هم وکــړه

هم په دې زمکـــه د دې زمکې د خدايانو خپو کښې
يۀ څــو کسانـــو ګــوره داسې بنــدګي هم وکــړه

تاتـــه اظهار کــول د مينې ډېــره ګــرانــه وه خو
زۀ کــۀ ډېر لېټ شومه خو ما ګورې تادي هم وکــړه

د ادب نــوم ئې وو ورکړې شونــډې سترګې ستائيل
څــۀ شاعرانــو زېنــه داسي شاعـــري هم وکــړه



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner



# " پېژندګلو "

نوم محسن کمال کمال لري استوګنه په اختر
اباد منګاه ضلع مردان کښې کوي ادبي تړون د "
فضل ادبي سنګر درګۍ اشنغر " سره ساتي۔



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

ستا مخ چې د بـوډۍ د تـال رنګـونـه جوړَول
زما زړهٔ لــه دې نــور هم ارمانـــونـــه جوړَول

په خپله پکښې غرق شو خپل عمل د لارې مل وي
زمـــونـــږه تباهی لـــه ئې بمـــونـــه جوړَول

یو ډېـر کمـــزورے پلار د خپل بچـي سره لګیا و
د شونډو رپرپي کښې ئې لفظـــونـــه جوړَول

زما هم کـتابونـــه تـــول د دوو تکـو نـــه ډک وو
هغې به هم بس هر وخت دوه نـومونـــه جوړول

کافـــر هم ښـهٔ پوهېږي چې دا کار د یو باچا دے
دا زمکـــه جوړول او بیا پـرې غـــرونـــه جوړول

په کور کښې مې وئیل چې دا راوانخلئ ګناه ده
خطونو نـــه بـــه ستا مې تعویـــزونـــه جوړول

اے ځکـــه خوښېدل بـــه د دردمـــنـــدو غم زېلـــو
کمال خپلو دردونـــو نـــه شعـــرونـــه جوړول



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

چې تاته د عاشق د تیتېدو ضرورت نشته
بیا مونږ ته هم بې ځایه د سجدو ضرورت نشته

اخبار به ځان ته خور کړي په فټ پاټ باندې اوده شي
مزدور ته د خوبونو د ګولو ضرورت نشته

چې زړه دې رانه موړ دے محبت دې پاتې نهٔ دے
صفا وایه د لندو او اوږدو ضرورت نشته

چې جنګ شي په وطن نو پښتانهٔ به پکښې سر خوري
چې امن شي نو بیا د پښتنو ضرورت نشته

په هېڅ قسمه تاوان او په نقصان دې صرفه نهٔ کړي
چې خپل خپلوان دې وي نو د پردو ضرورت نشته

خبره چې د ژوند اخیري دوَو سلګو ته راغله
بس نهٔ دې راځي اوس ئې د راتلو ضرورت نشته

کمال دومره حساس دے اشاره هم ورله بس ده
کمال ته د اوږدو اوږدو قیصو ضرورت نشته



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

دا چې ئې ستم کمزورے شوے دے
حسن د صنم کمزورے شوے دے

اے د حوا لورې ستا دې اوښکو ته
زوے نن د ادم کمزورے شوے دے

بيا مې زړهٔ طواف ستا د کوڅې غواړي
بيا مې نن قسم کمزورے شوے دے

زور اوس په پيسه او په ټوپک کېږي دے
ځکه خو قلم کمزورے شوے دے

اوس رابانددې راشي خو ما نهٔ وژني
ياره اوس دې غم کمزورے شوے دے

داسې په خندا کېږي راته مهٔ ګوره
زړهٔ مې ګورې سم کمزورے شوے دے

ښهٔ نهٔ شوم د سترګو د ګوزاره ئې
يه مُلا ستا دم کمزورے شوے دے

ستا د کمال هاغسې خوند نشته دے
اوس خو محترم کمزورے شوے دے



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

د ښائستــونـــو انتها ســړے پـــه ســوچ کښي لاړ شي
دومره ښائسته دے چي والله سړے پـه سـوچ کښي لاړ شي

زهٔ محبـت کښې د وجـــود تعلــق تـــه کفــر وايـــم
کـــهٔ خامخا ځي تــر اشنا ســړے پــه ســوچ کښي لاړ شي

داسي د بت شان بې احساسه ســـره ژونـــد کـــوومـــه
زهٔ ورتـــه ژاړمـــه او دا ســـړے په ســوچ کښې لاړ شي

تــل ئې ګلـــونـــه وي باران وي او ښائستـــه موســم وي
دا کېفيت ئې وي چې ستا ســـړے پـه ســوچ کښې لاړ شي

د باچاخان ســـره جنت کښې ځـــان يـــو ځا اووينـــي
کلـه چې هم د پښتونخـــوا سړے پـه ســوچ کښې لاړ شي

دا بعضــې خــلـک د ســـړي پـــه زړه کښې لاړې کـــوي
دې ځينې خلکـــو تـه بلها ســـړے پـه ســوچ کښې لاړ شي

د ســـوچ طاقـت بانـــدې نقشـــه د دې دنيا بـــدلېـــږي
خو شرط ئې دادے چې رښتيا سړے په سوچ کښې لاړ شي

چې د خپـــل ذات نـــه انـکاري شـــي د انا منكـــر شي
ډک د کمال نه شي چې بيا ســړے پــه ســوچ کښې لاړ شي



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

ستا وصال نوے ژوندون دے ستا بېلتون مرګ
راشه راشه چې لـــږ راشي په سکون مرګ

تـهٔ چې راشې نو د خوا نـه مې رخصت شي
تـهٔ چې ځې د نیمـــې لارې شي راستون مرګ

پـــه دولت بانـــدې چې مست دي ظالمان دي
دے عبـــرت د دوي دپـــاره د قـــارون مرګ

چې مې یـو نظـــر لیدلې نـهٔ ئې نـــهٔ مرم
ګـــرځي مـــاپسې کـوي زما لټـــون مرګ

چا وژلے وم چا مـــړ کـــړم څوک مې وژني
زمـــا نـن زمـــا سبـــا زمـــا پـــرون مرګ

دا چې جنګ پـــه اقتدار کـــړي غـــداران دي
دوي مـــو غـــواړي د روښـانـه سباؤون مرګ

یـــو غـــزل بـــه پـــه دې نـــوي دور لیکم
وي ردیف بـــه یې یارانـــو "د پښتون مرګ"

کمال ځکـــه اوس د مرګ نـــه نـهٔ ویـریـږي
څو څو ځلـــه ئې لیدلے پـــه ژونـــدون مرګ



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner



# " پېژندګلو "

نوم خان نبي پربت لري استوګنه په سپېلنو
دهېرۍ هاتیان تخت بهائۍ ضلع مردان کښې
کوي ادبي تړون د " لوند خوړ ادبي مرکز "
سره ساتي۔



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

راله د هر دېوال بلې ورانوي
باران مې کور د غریبۍ ورانوي

لفظونه ځاځکي وي ګلان توکوي
اواز خو تندر وي نرۍ ورانوي

زمکه ئې ورانه کړه اوس بره لاړل
ښکاري چې اوس جوړې سپوږمۍ ورانوي

په شا روانه ده او خاورې بادئي
د خپو خاپونه لېونۍ ورانوي

د خان د شګو کور طوفان وران نکړو
زما د ګټو کور سیلۍ ورانوي

پربته داسې فتنه راوړه اغیار
راله په کور کښې ملالۍ ورانوي



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

خاورو کښې پټه وه د قام سترګـه ړنـده پرتـه وه
ورســره لاسو کښې ضعیفـه شان جنـډه پرتـه وه

ښکتـه ئې نـۀ کتل او پورتــه ئې کتل اسمان تــه
زمکــه پــه وینو باندې سره وه او ګنـده پرتـه وه

فریاد د نـــورو خـدایانـــو ئې کـؤلـــو رب تـــه
هغه کافــره پـــرون بیا پــه سجــده پرتــه وه

ستاسو د ښار پــه سړکــونـــو کالجونــــه جوړ وو
زمونـــږ سړک بانـــدې لا هغسې لیـنـده پرتـــه وه

ځان مې کتـلو پکښې ځان به راتـه کوږ ښکاره شو
ډیـــره عجبـــه ائینـــه وه خو لـمـــده پرتـــه وه

پـــربتـــه وخت حالات او خلکـــو ډیر بدل کړم ګني
زما په شعر کښې به ځان ځان لـه قیصه پرتـــه وه



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

د یار غمـــونـــه خامـــاران ئې اوخـــري
زړۀ رانه اوخري خو ډېر وران ئې اوخـــري

مار چې ژونـــدے وي د مېږو قاتـــل وي
خو چې مار مړ شي نو مېږیان ئې اوخـري

پـــه دې وطن کښې مـــدام داسې شـوي
مـال د هنـــدو وي بامبـــړان ئې اوخـــري

زمکـه زرخېزه ده خـو خـۀ اوکـــړم نـــو
فصـل زرغـــون شي ګیـــدړان ئې اوخـري

خانه دا غوښه سپـو تـه مـۀ غـــورځـــوه
چالـــه ئې ورکـــړه چې انسان ئې اوخـــري

پـــربتـــه زۀ هم جوارګـــر غـونـــدې یـم
ګتـــه چې اوکـــړمـــه تاوان ئې اوخـري



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

یو سـړي تـولــه دنیا پــه ســر راخستې
لېــوني تــولــه دنیا پــه سر راخستې

د خدائ وجود ئې غېر موجود ثابت کــړو
سامــري تــولــه دنیا په ســر راخستې

سمندر خو چرتــه شړپ قــدرې اونــهٔ کړو
خو لختي تــولــه دنیا په ســر راخستې

خبــر د امن غواړي چغې کــړي کوڅو کښې
یو سوالــي تــولــه دنیا په ســر راخستې

د شپې چغې وهي څوک تــرې اودهٔ نــهٔ شو
یو ولــي تــولــه دنیا په ســر راخستې

اے پــربتــه زهٔ به خاورې ښار تــه لاړ شم
چې مــرګي تــولــه دنیا په ســر راخستې



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

لکـــه د اوور لمبې راځي ستا خيال دے ورتـــه
دا لېونے خو اوس د شپې راځي ستا خيال دے ورتـــه

خلکـو بـې وختـــه د وختونو قـــدر پرېښـــودلـــو
ځکـــه بـې وختـــه زلزلې راځي ستا خيال دے ورتـــه

دا ځوان مومن دے يا ملنګ دے يا څـۀ بل څـۀ چل دے
دے مېخانې نـــه بې نشې راځي ستا خيال دے ورتـــه

هغـــه چې چا بـــه مې کعبې پورې خنـــدا کـؤلـــه
هغـــه طواف له د کعبې راځي ستا خيال دے ورتـــه

څوک چې د چا په سر د خاورو نـــه معراج ته لاړ شي
بيا د هغۀ په سر ئې خپې راځي ستا خيال دے ورتـــه

د دے پربت د مخې ذکـــــر چې د يار اوکـــړي څوک
د دۀ په مخ بل شان نقشې راځي ستا خيال دے ورتـــه



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner



" پېژندګلو "

نوم احد امین رهبر لري استوګنه پبو ضلع
نوښار کښې کوي او ادبي تړون " د صابر
رڼا ملګري تحریک " سره ساتي



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

دې وخت راله راکړې نفرتونو کښې یو بؤ دے
بس ژوند کوي زمونږه په ذهنونو کښې یو بؤ دے

مېله د مداریانو ده ساده خلق تېر باسی
چې هر سړي نیولے په لاسونو کښې یو بؤ دے

ځنګل دے د وحشت او وسوسې دي راپسې
بس نهٔ راځي مور جانې په خوبونو کښې یو بؤ دے

د مینې لیوني پکښې تر نیمو شپو ګرځېږي
دا چا وې چې د بر کلي په غرونو کښې یو بؤ دے

یو ځل یم ویرېدلے بیا به نهٔ ورځمه خواته
د دې ګودر په غاړه سرو ګلونو کښې یو بؤ دے

دې کریکو کښې دې شور کښې تهٔ بې غمه کړې خوبونه
اے خانه ستا د کور په دیوالونو کښې یو بؤ دے

اټک نه چې راواوړې تالاشي ئې کړه رهبره
راوړے دے سړي خو په جیبونو کښې یو بؤ دے



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

د یو چا د غم شیشې خورمه ژوندے یم
زهٔ د خپل زړګي ټیکې خورمه ژوندے یم

دې دېوال زما د ولو غوښې یوړې
دغه ور ته چې دمې خورمه ژوندے یم

دا زاهده کرامت نهٔ دے نور څهٔ دي؟
دا د زهرو چې کاسې خورمه ژوندے یم

پرهرونه د زړګي مې پرې رغېږي
د ښپو خاورې د هغې خورمه ژوندے یم

انتها د لېونتوب به نوره څهٔ وی
دا چې تاپسې جامې خورمه ژوندے یم

قاضي وایه لیوني کله سم شوي
ذولنو زهٔ ذولنې خورمه ژوندے یم

شل به شم صبر به نه شمه رهبره
د چا لارو پسې خپې خورمه ژوندے یم



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

دې سترګو کښې دې یاره دے اثر د مقناطیس
بس ځان ته مې راکاږي لکه غر د مقناطیس

دا زره ئې رانه وړے دے هر ښکلے ستا د خېل دے
اے ستا خو دے والله چې تول ټبر د مقناطیس

راکاږي هر سړے د خپلې مینې په تاثیر
دا بعضې خو لري زړهٔ او ځیګر د مقناطیس

چې ختم نفرتونه شي او مینه پکښ عام شي
نور زړونو کښې پکار دے مونږ ته کر د مقناطیس

زمونږه د غریبو بې وسي ده دا مو حال دے
اے مونږه ځان ساتو خانه په سر د مقناطیس

په زړهٔ کښې ئې اوسیږی کهٔ دښمن دے کهٔ حاسد
نو سر تر پایه جوړ دے دا رهبر د مقناطیس



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

ستا زړۀ خو سم د کاڼي په شان کلک دے ښۀ کلک دے
جانانه ما خـــوړلـې پرې تينــــدک دے ښۀ کلــک دے

دلتـــه د يـــو ځـــوان لاش نـــن د سيند اوبـــو راوړے
زما ئې په يـارانـو بانــدے شـــک دے ښۀ کلـــک دے

ملـــنګه تۀ ئې واخـــله تانـــه زار خو نور څۀ نشته
په شکور کښې مو بس دغه يو سوکړک دے ښۀ کلک دے

روان يــم پــردي جنــګ پــردي سنګر ته ليونے يــم
اوګه باندے مې پروت پــردے توپــک دے ښۀ کلــک دے

يـــو مار مـــې وو لـــوې کـــرے د ګـــوګل په استـــانـــه
راکــړے ئې په زړۀ بانــدې اوس تـــک دے ښۀ کلــک دے

لر او بـــر بـــه څنـــګه اوس يـــو ځـــاے شي تر محشـــره
وهلې ئې په ميـنـز کښې چا پاتـــک دے ښۀ کلــک دے

رهـــبـــره بې مطلـــبه به اوبـۀ هــم تــرې ونۀ څکې
په دے کلی کښې خــان دے کۀ ملک دے ښۀ کلــک دے



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

غمونــــه چې زهٔ تــول د زنــدګۍ پکښې پوکمه
شپېلۍ رالـــه پکار ده چې سلګۍ پکښې پوکمه

خبــر نــــهٔ ئې تــــهٔ هېڅ د غبـــارو د کاروبـــاره
ساګانې د وجـــود پـــه يو روپۍ پکښې پوکمه

نفرت له مې په دواړه لاسه خولـهٔ ده وازه کــړې
هـــــوا د محبت نـــرۍ نـــرۍ پکښې پوکمه

يو بت کړه د جانان په شان تــهٔ جـوړ اے مصوره
ساګانــې بـــه زهٔ خپـلې د مـــرۍ پکښې پوکمه

ډنــډ ډنـــډ اوبـهٔ ولاړې دي په زمکه او باران دے
زهٔ ناست يم د کاغـذ جوړه کېشتۍ پکښې پوکمه

رهبــــره د ګُنداغــو نه شپېلۍ بـــه جــوړومـــه
نـغمې بـــه د اولـــس د بېـــدارۍ پکښې پوکمه



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner



# " پېژندګلو "

نوم مدثر جهان لري استوګنه په شېردل کلي هاتيان ضلع مردان کښې کوي ادبي تړون د " هاتيان ادبي تولنې " سره ساتي۔



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

چې سترګې دې ښکلومه نو بانهٔ خلې له راځي
په خوب کښې مې تراخهٔ رانجهٔ خلې له راځي

په بعضې محفلونو کښې په ناسته نهٔ مرېږم
په بعضې محفلونو کښې مې زړهٔ خلې راځي

زما دېرې روژې زما نه دې مکروهه کړي
دې ښکلو ته چې ګورمه اوبهٔ خلې له راځي

بلها بلها خامې درپکښې وینمه جانانه
خو نهٔ ئې درته وېلې شم او نهٔ خلې له راځي

چې لاړې مې په خلهٔ کښې ستا ده خلې نه پاتې کیږي
لفظونه به مې خامخا خوارهٔ خلې له راځي

ساده باده سړے یمه جهانه قیصې نه کوم
بس هغه درته وایمه چې څهٔ خلې له راځي



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

ښـهٔ ديــدن وکړه نظــــر مـهٔ خوځوه
ور کښې راګـــوره خو ور مـــهٔ خوځوه

لـړ خيال کوه چې دا باجـه څـهٔ وائي
هـرې خبــرې تــه ســـر مـــهٔ خوځوه

تــهٔ لا زمونــړه ده ســفـــرو نــهٔ ئې
پـــه قـــلار کــيـنـــه وزر مـــهٔ خوځوه

ګـــوزار کوه چې څـهٔ جواب ئې درکوم
ماتـه ده لـــرې کـــمـــر مـــهٔ خوځوه

دوه مئين ناست دي مختصر سورے دے
وخته قـلار شـه دا لـمــر مــهٔ خوځوه

جهانــه خلک پـه شعـر نـهٔ راپـاسي
هسې ديکـــو بانـــدې غـر مـــهٔ خوځوه



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

خلې لـه مې نـهٔ راځي خنـدا خفـه ده
جـــوړې هـغـه زما نــه بيــا خفـه ده

ژونــده کـــهٔ داسې ئې الله دې خبر کړي
ژونــده بېخي مې درتـه ساه خفـه ده

يـو تــهٔ خفــه ئې او زهٔ داسې يمـــه
لکــه زمـــا نـــه چې دنيـــا خفـه ده

دلتـه انسان بلا نــه نـــهٔ دے خفـــه
د انســانـــانـــو نـــه بـــلا خفـه ده

دومـره دې وکړلـه چې ستـړے دې کـړه
جهانـــه ستا نـــه يــو ګـنـاه خفــه ده



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

کـهٔ لـــړې رانـــه وړې ئې هـــوا لکـــه پتنګ
خو تار دې زما لاسو کښې دے بيا لکـــه پتنګ

کهٔ غواړمه چوتوم دې او کهٔ نهٔ غواړم نو نه
وس تـهٔ پـــه مثال داسې ئې اشنا لکـــه پتنګ

عـــوام ئې لکه پرقې ماشومان وهي ولاړ دي
د بل پـــه چک ګـــډيـــږي يو باچا لکـــه پتنګ

داسې چې ازل نـــه د يو بـل په اوګو بار يو
سېلۍ بـــه مـــو پکار وي خامخا لکـــه پتنګ

ژونـــد لکـــه د سوې د يو غار د پاره نـــهٔ دے
د بـــره نـــه ليـــدهٔ غـــواړي دنيا لکـــه پتنګ

ځنګـېــږي تورې زلفې ئې پـــه مخ لکه زونډي
جهانـــه بعضې ښکلـــي کـــړي ادا لکـــه پتنګ



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

دا چې نن ښکل کړمه جانان پــه دواړه سترګــو
ځکــه منمــه ئې احســان پــه دواړه سترګــو

ما وېل چي ستا شمه اشنا ته بهٔ زما شې کــهٔ نــه ؟
راتــه ئې اووئيـل قــربــان پــه دواړه سترګــو

تــهٔ ځنګل لانـدې کړه لېلا بنګـړي دې نــهٔ ماتېـږي
بس زهٔ منــم کـنــه تـــاوان پــه داوړه سترګــو

چې محبت پکښې روا دے مـيـنـه هـــم روا ده
ماتــه قبــول دے دا ايـمـــان په دواړه سترګــو

ګل دې په لويه لار کښې راکړو خو چې څهٔ به کېږي
رقيب کـتـل راتــه حـېــران پــه دواړه سترګــو

جانان دې راوسـتــو رېبــاره ده انعام قابـل ئې
خو ځــه مننــه يو جـــهان پــه دواړه سترګــو



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner



# " پېژندګلو "

نوم خالق نور یوسفزے لري استوګنه په جهانګیري ضلع نوښار کښې کوي ادبي تړون د " روح الله دراني پښتو ادبي او ثقافتي جرګه نوښار " سره ساتي۔



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

در په در د وروکوالي نه رالـــوې شـــوم
په څۀ شر د وروکوالي نه رالـوې شـــوم

بس خو يو په چل د مینې پوهه نۀ شــوم
لکـه خر د وروکوالي نه رالـــوې شـــوم

څــــــومره زر مې بادشاهي د لاس نه لاړه
څومره زر د وروکوالي نه رالـوې شـــوم

پښتانۀ بې حسه قام دے ګینې زۀ خـــو
پېغامبـر د وروکوالي نه رالـــوې شـــوم

بې درکه زندګي خــــاورې ایــرې ژوند
مـــرور د وروکوالي نه رالـــوې شـــوم

په یخ سبوري دمه نۀ شــــوم خالق نوره
په سور نمر د وروکوالي نه رالوې شـــوم



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

ستا کِرامت دے بېنظیره نو زۀ څۀ اوکړمه
زۀ یم مجبور د زړۀ له ویره نو زۀ څۀ اوکړمه

عشق حقیقت او کۀ مجاز په دې کښې کوم اوژاړم
زۀ ډېر حساس یم زما پیره نو زۀ څۀ اوکړمه

چې د سلام جواب سلام کښې راکوُلې نۀ شې
کۀ ستا پینځۀ لېشته وي ګیره نو زۀ څۀ اوکړمه

کۀ تا ګټمه نو د ګل پۀ شانتې ورور بائېلمه
زما د پلار نیکۀ جاګیره نو زۀ څۀ اوکړمه

زړۀ مې ورانېږي په کتو درته مجبوره شمه
د بې وفا یاره تصویره نو زۀ څۀ اوکړمه

شکر ګزار یمه د هر حالت منونکے یمه
بیا هم زۀ خوار یمه امیره نو زۀ څۀ اوکړمه

ستا خالق نور دا عاجزي او دا بې حِسه خلک
نازونه وړم فخرِ اجمیره نو زۀ څۀ اوکړمه



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

ما دغه رخسار چــرته لیـــدلے دے
دا ســـړے مې یار چـــرته لیـــدلے دے

څنګه پـــرې یـــوه یـــوه لحظـــه اوځي
زړهٔ دې ناقـــرار چـــرته لیـــدلے دے

خبـــر دے بیا ئې اوکړه خو یو سوال کوُم
زور دې د انـــکار چـــرته لیـــدلے دے

تـــول خـــوَله خـــوَله وي او زخمي زخمي
تاســـو مزدور کار چـــرته لیـــدلے دے

هـــغه ګـــلدره خـــزان وهـــلې ده
تا پېښـــور ښـــار چـــرته لیـــدلے دے

ووایـــــه چې تا لکـــــه زمـــا په شـــان
ځـــان پسې بیمار چـــرته لیـــدلےدے

دا پـــه حقیـــقت کښې چـــې ئـــې وینمه
خوب کښې مې یو وار چـــرته لیدلے دے

ســـله ئې پـــوښتې رانه چې څنګـــه وي
مـــونږه نـــو بهار چـــرته لیـــدلے دے

راشـــه خـــالـــق نـــوره تماشـــه اوکړه
تا د زړونو ښـــکار چـــرته لیـــدلے دے



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

قیصه هاغه زره نهٔ ده قیصه بدَله شوې
پښتون یم زما ټوله فلسفه بدَله شوې

غریب یمه کهٔ هر څنګه یم ماته ګناه نشته
پېسې ته د ملا هم عقیده بدله شوې

زما د عشق ایمان زما په ذات کښې مکمل دے
د یار زرهٔ کرد وهلے دے کعبه بدله شوې

منمه چې مې ورور ئې خو حالات څهٔ داسې وائي
زما او ستا تر مېنځه دا رشته بدله شوې

جواب دې د سوال دغه دے خو پر درته په دې یم
اشنا دلته د هر تکي معنه بدله شوې

کلک نهٔ نیسي په زرهٔ پورې اوس یو بل چې دا ولې
د خلکو خېر پخېر او مخه ښه بدله شوې

یقین اوکره چې فکر او خیالات د خالق نور دي
خو نوم په کښې د بل چا دے مقطه بدله شوې



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

په څـــهٔ وړه خبـــره به اشـــنا خـــفه کېـــدو
په تـــوقـعو کښې به ما نه په رېښتیا خـــفه کېـــدو

وئېل به ئې چې دا وخـــت چا ســره ده ناستې نـهٔ دے
په دې به مــې اکثـــر رانه بـــابـــا خـــفه کېـــدو

هـــغهٔ ســـره به هیـــچا هـــم ښهٔ نهٔ کـــوُل ملګرو
مایـــوسه و خـــو بیا هـــم په هـــر چا خـــفه کېـــدو

ده هـــغه لېـــوني به نـــور په هیـــخ څهٔ پروا نهٔ وه
هـــغه بـــه پـــه دروغـــو او په غلا خـــفه کېـــدو

چې امـــن امـــن امـــن او بس امـــن ئې غوښتلو
څـــوک و چې ده دې خاورې پـــه ښکلا خفه کېـــدو

هیڅ څوک ده خالق نور ده زړهٔ چاؤدون نه خبر نـــهٔ وو
تیارو ســـره په شـــر و پـــه رڼا خـــفه کېـــدو



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner



## " پېژندګلو "

نوم عمېر ننګيال لري استوګنه په يارحسېن ضلع صوابۍ کښې کوي ادبي تړون د " پښتو ادبي پرمختګ او پښتو ادبي سباون " سره ساتي.



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

بعضې مجبوره شول په ځينو خـو واکـــدار څکلي دي
د رانجـو ډکې اوبــهٔ دلتـه هـــر فـــــنکار څکلي دي

دا چې زما رنـګ تـاتــه زيـړ ښکاري نــو وجــه دا ده
ما د خپـــل زړهٔ وينــې د تـــا پـــه انتظار څکلي دي

ستا د جفا په لـــړ کښې ما اشنا نور څـــهٔ کـولې شو
خـــو دومره وه چې خپلې اوښکې مې بار بار څکلي دي

بې ننګـــه نـــهٔ يو چې مونږ ورستو شو دريغ بدل کړو
مونـــږ پښتنو د خپلو مېنـدو پـــې طهـــار څکلي دي

د دې نـــه لويــه بــدبختـي به زما نـــوره څـــهٔ وي
چې مې د خپل کوهي اوبــهٔ ستا پـــه اختيار څکلي دي

بېګا ئې ستا د هېـــرؤلـــو ازمېښـتـــونـــه اوکـــړل
ننګيال پـــه جام پسې جامونه وار پـــه وار څکلي دي



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

منم چې ستا نظـر کې هسې يؤ تکه غـــونډې يم
کـۀ لږ مې ولولې زۀ هم د وخت کيسه غــونـډې يم

ستا محفلونـه رنـــاګانې بـــې مزې غـــونـډې دي
زۀ کــــۀ تنها يـــمه خو بيا هم با مـــزه غونډې يم

اول انسان بـــيا مسلمان او بـــيا پښتـون يم اشنا
د ننګ اؤ پــــت اؤ شجاعت يـؤه توتـه غونډې يـم

له ځـــانه نۀ اوځـــم له ځانه سترګې نـۀ اوباسـم
په ځان کښې بـوخت يمه په لويه واوېله غونډې يـم

اخــــر ننګيال يـمـــه د خپل دريځ بدلـــون نۀ کوُم
چې مخکې څنګـه وم نو ورستو به هغه غونډې يم



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

## غزل

په سپینه خـلهٔ د ناز صـفا خبرې
ځومره خـــوږې کوي اشنا خبرې

ستاســـو خـــبرې د تیارو خبرې
زمـــونږ خـــبرې د رڼـــا خـــبرې

دواړه زموږ د مـــرګ سبب جوړوي
څهٔ د باچـــا څـــهٔ د مـــلا خبرې

زما خـــبرې خـــو تـحقیق دې زما
خـــو ستا خبرې د بل چـــا خبرې

زهٔ لکه زمـــکه تهٔ اسمان ئـې اشنا
چـــرته زمـــا او چرته ستا خبرې

د چـــا خـــبره غوږ پرې نهٔ ګرؤم
راپسې کـــیږي د دنـــیا خـــبرې

ته خـــو نفرت زهٔ مـــحبت خپرؤم
زمـــا او ستا جـــلا جـــلا خبرې

دلته وجدان د خلکو مړ غوندې شو
خـــلک دروغ کـــنې رښتیا خـبرې

کله چـــې یار ته مخامخ ودرېږم
ننګیاله هېرې شـــي زمـــا خـــبرې



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

امد نــــشه کښې خپــل غـــــزل لــه قافیې لتـؤم
د ژونـــــد هر باب تـــه د لـــفظونـــو قافلـې لتـؤم

تول بې ضمیره شو دا خلق اوس زمونـــږ په ښار کښې
زهٔ لا پـــه دې ښـــار کښې د امــــن پریښتې لتـؤم

نـــرے بـــاران غم د جانان شو راترغاړې وځـــه
د هـــجـــر شپې لـــه به د کوم داستان قیصې لتـؤم

د انــقـــلاب دپـــاره زهٔ لښکـــرې نــــهٔ لـــتـــؤم
د انقـــلاب دپـــاره زهٔ تـــــودې جـــذبې لتـؤم

د خـــــپلې مور په دعا رنګ یمه شاهباز ګـــرځېږم
ولې به زهٔ پـــه هـــر دربار کښې د پیـــر خپې لتـؤم

مونـــږه د غیـــرو د نصاب نـــه دغه ګـتـه اوکـړه
چې دکـــشنـــرۍ کښې د پښتو تکـــو معنې لتـؤم

نــــهٔ پاروکر نــهٔ تماشګیر یم زهٔ د خـــلقو پـــه شان
د اهـــنـــګ دکـــې د اولـــس د ذوق نغـــمې لتـؤم

کـــهٔ باچاخان هېر کړو ننګیالـــه نـــو ناکامـــه به شو
د بـــاچاخان ســــوچ پسې بـنـدې کتابچې لتـؤم



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

فکر نۀ کړم چې بل څۀ به مـــې دوا شي
دوا دا ده کـــۀ اشنا زمـــا رضـــا شـــي

زما ژونـــد په څـــو یارانو باندی ښۀ دے
دنیا څـــــۀ کۆم دنـــیا دې د بل چا شي

هر مئین د خپل مئین تر څنګه خوند کړي
خداۓ دې نۀ کړي چې د یۀ بل نه جلا شي

د نفرت چې دلتـــه کـــوم خـــلک قائیل دي
لۀ اسمانه دې پـــرې تـــندر راخـــطا شي

دغـــه کس دې بس زما د ژوندون ساه شي
"چـــې زما تنهائي ووینـــي ګـــویا شـــي"

دا زما د جانانـــه خـــوي بـــرکـــت دے
چې ناشانه سـرے مې ووینـــي اشنا شـــي

د الله نه مې ننګیالـــه دغـــه ســوال دے
هر پښتون دې پـــه دنیا کښې سر بالا شـــي

یادګیرنه :- د اروابناد صاحب شاه صابر صېب په طرخه



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner



## " پېژندګلو "

نوم مفتي معاذ همدرد لړي استوګنه په تخت
بهای، ضلع مردان کښې کوي ادبي تړون د "
شېرګړه پښتو ادبي جرګې " سره ساتي.



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

دلتـــه دَ شــر شـــدت نـــه لوئې کاروبار هم نشته
او بـې لــه ویني دلتــه بل یو خــریـــدار هم نشته

لاره دَ امن بلـــه هېڅ یؤ لـــه مـــذهبــه نشتــه
خو لـه مذهبـه دلـتــه بل څۀ ښــه ختیار هم نشته

بربنـــده زمکـــه غورځېـــدلې وریژې دوه ماشومـان
په سره غرمه ئې خوري په پښو کښې ئې پېزار هم نشته

وزیـــره خور کـــده کـوي، ده پـــه چېک پوست ولاړه
لوپټـــه شتـــه خو د عـــزت پړې یو تـــار هم نشتـه

لـــه مسلمانه دلته هېڅ یو لـوئې کافـر نشتـه دے
او لـــه ملیانـــو دلتـــه بـل لـوئې کفـار هم نشتـه

ځان رَسوَل غـــوارې دَ کفـر او اسلام منـــدې تـــه
دَ پښتونخـوا نـــه پکښې بل ښکلے بازار هم نشتـه

ورځ دَ اختر کرفیو خـوره ده دیـدن څنګـــه وکـــړو
جانانـــه خال مې پـــه تنـدي مـزېـدار هم نشتـه



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

امـــن ویونکیو دَ نائـــي لـــه چارِې امـــن زده کړئ
بـلـــه لـــه دې پُـــر امـــن لاره دَ سینګار هم نشتـه

زمونـــږ پـــه کلـــي دې دا اور دَ دے ســـرِي دَ لاســـه
زمونـــږ پـــه کلي کښې لـــه دهٔ نه تقـویٰ دار هم نشتـه

معاذ همـــدرد مفتي ازغـــے دے دَ هر چا سترګـــو کښې
لـــه دهٔ کافر لـــه دهٔ بـــدکار او بـــدکـــردار هم نشتـه

☆☆☆



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

الفت راســـره مـــل دے د یـــو پـاک پېراهـن
نفـــرت بـه مې مـــدام وي لـــه ناپاک پېراهـن

یا ربـّـه د دې" کـن فیکـــون " راز هم محبت دے
حاصـل دے محمـدﷺ تـــه د لـولاک پېراهـن

زما د ناستې څوک دي بې له زاکه بې له خاکـه
زما سره نـور څـــهٔ دي خـــو یـــو چاک پېراهـن

دا خاک ئې زرغونـه ده هم دا خاک ئې خاتمه ده
پـــه اصـل کښې هـر شے دے د یو خاک پېراهـن

ښهٔ توري دي او توري دي او تـوري دي او تـوري
نـــو دا لـکـــه مـــدام بـــه وي د زاک پېـراهـن

ما تو نهٔ کړهٔ راتو کړهٔ چې مې قدر پکښې نـهٔ و
معـــاذه کـــهٔ هر څـو ئې و پـوشاک پېراهـن



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

لـــږ دَ غمــــونــــو پېمائش پـــکار دے
پـــه ځان یؤ داسې ازمائش پـــکار دے

شمعې کـــــړم بـلـې موسیقي اورمــــه
غم تـــه ماښام کښې ارائش پـــکار دے

رقیب پـــه مینه کښې یؤ لوئې کردار دے
دَ دهٔ هم لـــږ شان ګنجائش پـــکار دے

لیکلے شـــعـــر شـــي دَ زړهٔ پـــه ویـنـــو
بـیا څـــهٔ نا څـــهٔ خو نمائش پـــکار دے

سـړي سـړي ته ګــوره بیا مئین شـــه
زړهٔ ته خو هم څـــهٔ اسائش پـــکار دے

تـذلیل کښې ژونـــد کوي دعا هـــم کـوي
دَ ســـنـــدرغـــاړو ستائش پـکار دے

مـــعــاذه دم ځان ګـنــاهــګاره ګـنــي
خـــدائ تـــه دَ دهٔ خو فرمائش پکار دے



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# ازاد نظم

تهٔ چې رامخ کړې ماته
زما سوالونه حل شي
ته د هر سوال ابتدا
مسلې ډېرې راوړم
خو ستا خندا ئې حل کړي
د مسلو مؤجده
ماته امان ملاؤ شي
ستا د کرم سپوري ته
د جهنم خالقه
يو چا عزت نيلام کړو
د توک ډوډئ په خاطر
څومره سخي ئې ربه
کهٔ فرښته اوکړي سوال
چې ولې داسې مره شوم
هر شے به چپ پاتې شي
دے مسلمان کافر کړي
دے کړي کافر مسلمان
معاذ کافر مفتي دے -----



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner



" پېژندګلو "

نوم عدنان صاحب لري استوګنه په بهادر کلے ضلع پېښور کښې کوي ادبي ترون د " ادبي ملګري لندی ارباب پېښور " سره ساتي۔



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

ستا ښکلے مـخ لــه د افتاب سره تشبیح ورکــوم
سرو انگـــو لــه دې گلاب ســره تشبیح ورکــوم

زهٔ خـــوار غـــریب ســړے او تــهٔ د محلونو ښکلا
ځنګ بــه مرغۍ لــه د عقاب ســره تشبیح ورکــوم

ستا د پانزېبو شرنگ او شور د بنگــړو څــهٔ ووایم
هسې بس دې لـــه د ربـــاب ســره تشبیح ورکــوم

گلاب ښېسته دے کهٔ سپوږمۍ او کهٔ جانان ښېسته دے
منصفــه دے لــه به کوم باب ســره تشبیح ورکــوم

ستا د نامې ذکـــر چې کلـــه هم په خولـهٔ مې راشي
زه لـــه تعظیمـــه د جناب ســـره تشبیح ورکــوم

دا تـــهٔ چې داسې بـې مینتـــه زما خوا لـــه راغلې
دے حقیقت لـــه ولې خواب ســـره تشبیح ورکــوم

پــه تــا پسې مې دومـــره اوښکې بهېدلي دي چې
دروغ به نـهٔ وي کـــهٔ دریاب ســـره تشبیح ورکــوم

د پښتنو پـــه ســر شملـــه د ابـــدالي پرتـــه ده
کـــهٔ ډېر غریب دے خو نـواب ســره تشبیح ورکــوم

صاحبـه تـول غـــزل دے دومره د کمال نـــه ډک دے
ستا دے غـــزل لـــه د کتاب ســره تشبیح ورکــوم



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

اے دا بـېـې سره زرۀ دې لـړ شانې پـــه لار کـــره کنه
دومـره خو اوکــــره انسانانو کښې مې شمار کـره کنه

ستا د راتلو پـــــه تمــه تمـــــه اخـــــري سلګۍ شوي
د پاتې نـــۀ يمـــــه مـړ کېـږمـــــه تلوار کـــره کنه

بلها مـوده اوشوه نشه مې چرتـــــه نـــــۀ ده کـــــړې
راسره اوکــــره څــــو خبـــرې ما خمار کـــــره کنه

نن مې يو څو تپې پـــــه باب د خپـــل جانـان راوړي
مطربـــه څار دې شمـــه زر شه سور دې تار کـــره کنه

ما درته نۀ وئيل زړګيـه مېکـــدې تـــه مـــۀ ځـــه
چې دومره نر ئې اوس دې خپل ځان رايسار کـــره کنه

د خوشې ناستې نه د خان هغــــه بيکار هم ښـۀ دے
بچيـه پاځـــــه څـــۀ پېدا ځانلـــه روزګار کـــره کنه

ستا په يو مخ راتلـــۀ او بيا راتـــه پـــه شا شا کتل
کم عقلـــه ياره ځان دې مړ کړو خو اظهار کـــــره کنه

لتانه ځــار شمـــه صاحبــه نــور توان نـــۀ لرمـــه
راشـــه راجيګـــه مې کـــره ما د غاړې هار کـــره کنه



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

## غزل

د چا د ځلي نه مې اثر راخستے
لکه جنت نه مې کوثر راخستے

په زنه دوه خالونه دوه پښتانهٔ
یو مې د لر بل مې د بر راخستے

کلونه اوشو پورته نهٔ راګوري
تهٔ به وې بت مې د مندر راخستے

د دې دنیا په مقصد پوهه نهٔ شوم
ژوند ئې بې وسو نه اکثر راخستے

د ځینو خلکو کړهٔ او وړهٔ کوْمه
د ځینو خلکو مې هنر راخستے

هغه د قسده به په بام ښکاره شوه
ماسره تول کلي پړې شر راخستے

قات دے فاقه ده نور به څهٔ خرڅوي
یو چا بې وسه د کور ور راخستے

اوګوره غم ته دې ورغاړې وتم
اوګوره سر باندې مې غر راخستے

وئیل ئې ورځ دوه کښې به مړ شي صاحب
د چا د خلې نه مې خبر راخستے



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

په دغه لار کښې مې څو ورځې او څو شپې کـــړې دي
ستا انتظار کښې مې پــه ځان سمې نخـــرې کـــړې دي

یقین مې نهٔ شي چې رضا بـــه شي او خوا لـــه راشي
دے کافر یار باندې مې څو ځلـــه جـرګـــې کـــړې دي

نهٔ خو چا شتهٔ کړو نهٔ ئې په څهٔ کښې کړو حساب ملګرو
بس خو هـــر چا راباندې تشې تجـــرې کـــړې دي

خبر دے کهٔ اوس ئې د هجران په اوور کښې سوزمه زهٔ
د وصال وخت کښې مې بلها بلهـــا مـــزې کـــړې دي

والله چـــې زهٔ خـــو ئې د لادو بـــادو اووېستمــه
صاحبـــه ستا مینې پـــه ما باندې کانـــې کـــړې دي



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

ستا چې په دومره دېـــره مینه کښې گیلــه وي زما
خفـــه پرې نـــهٔ یمـــه بس دا به نصیبـــه وي زما

پـــه زړهٔ مې بس دغـــه ارمان دے هم په دې پایمـــه
چې توره شپـــه وي او جانان پروت پـه سینه وي زما

څوک به ترې څنگـه خپل روزگار اوکړي بلا دې واخلم
غم دې راځي او پـــه مـــودو مـــودو میلمـــه وي زما

کـــهٔ چرې ستا د قدم خاورې هم نصیب شي راتـــه
بس په دې تول ژوند کښې به دغـــه سرمایـــه وي زما

په کومه شپه چې زهٔ یارانو په جومات کښې نـــهٔ یم
هغـــه یو شپـــه بـــه یقیناً پـــه مېخانـــه وي زما

نن ستا په یاد کښې مې په جام په لپـــو دواړو څکلي
نن ستا د لاســـه بـــه بیا جـــوړه تماشـــه وي زما

کـــهٔ چرې بیا راتلې پخپلو کـــړو خپېمانـــه شولې
دوه گـــزه زمکـــه یو دیـــوه بـــه نښانـــه وي زما

ستا د یـــوې یـــوې خبـــرې بـــه جواب راوړمـــه
صاحبـــه بیا کـــهٔ چـــرې تاسو کـــره شپـــه وي زما



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner



# " پېژندګلو "

نوم رياض قرار لري استوګنه په سردهېرو ستېشن کورونه ضلع اشنغر کښې کوي ادبي تړون د " اولسي ادبي سنګر سردهېرو اشنغر " سره ساتي۔



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

د ژونـــد په تېـرؤلـــو پښېمانـــــه یو سړے دے
خفـــه لکـــــه زما غوندې د ځانــــه یو سړے دے

د لوږې نـــه مړ کېږي د خوراک ئې هیخ ځـۀ نشته
ستا چم کښې تۀ خبر ئې دلته خانــه یو سړے دے

یو وخت مې ترې والله کـــۀ هم بغېر زندګي کېږي
سم ګران په ما قسم چې د اسمانـــه یو سړے دے

په پته نـــــۀ پوهېـږم چې په څۀ خبره جنګ دے
چا لار کښې رانیـــولې د ګریوانـــــه یو سړے دے

د صبـــر پــــه مـری بانـــدې مې تـــول عمر تړلې
تعویـــز غوندې په زړۀ مې اویزانـــه یو سړے دے

قــــراره د دې خلکـــــو د پېغور لــه دغـه ویـرې
پـه غبېږ کښې مې پټ کړے له جهانه یو سړے دے



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

څــهٔ به سپرلے څـــهٔ به ګلونه څـــهٔ به رنګ واخلي
چې یوه خـــاوره د کال دولس میاشتې جنګ واخلي

هغـهٔ له بیا مسافرۍ کښې ژونـد خوند چرته ورکئي
چې څوک په سپین مروند خوندونـه د پالنګ واخلي

شمعې لږ پام کــوه لمبــه دې پــه قابو کښې ساتــه
هسې نـــه ستا د لاســـه اور چـرتـــه پتنګ واخلي

هغې خو تول عمــر زما سیــوري پـه کانـو ویشتي
هغــه بـــه اوس زما د لاس نـــه ګلاب څنګ واخلي

ستا د سرو شونډو مسکا ځان تـه چې رایاده کړمه
وینــه مې سمه په تـوپـونـو شي غورځنګ واخلي

د ژونـــد مثال مې اوس قراره څـــهٔ په دا رنګې دے
لکـه پـــه زمکـه پـرتـــه اوسپنـه چې ذنـګ واخلي



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

زۀ دې حالتــو داسې یوړم خوارو ځار پــه خلــهٔ کښې
لکه چې ژونـد وي چا تېر کړې د ښامار پــه خلــهٔ کښې

تــهٔ چې ستم خومـره کـؤلې شې پـه ما ئې اوکـــړه
زما به تاتـه چرتـــه نـــه راځي انـکار پـــه خلـــهٔ کښې

چې کوم ســري زما د ژونـــد بـــه دعاګانې غوښتې
اوس همیشه وي د هغه ســري ازار پـــه خلــهٔ کښې

کهٔ د خپل مرګ نــه ویرېدلو نـو رښتیا بـه ئې نـهٔ وې
منصور به هیڅ کله بیا نهٔ خندل د دار پـــه خلـــهٔ کښې

د سپین رخسار سره دې سرې شونډې څهٔ داسې ښکاري
لکـه چـه چرتـــه چا نیولې وي انار پـــه خلـــهٔ کښې

سحـــر ماښام ئې سمــه ځان لـــه وظیفـه نیـولې
اوس ستا نامه کله هر وخت وي د قرار پـه خلــهٔ کښې



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

د وینې بوی ترېنه راځي که قیمتي جامې دي
په وینو سرې دلته اغوستې یو سرې جامې دي

زمونږ د کلي خان د خېل دولت زکواة ویستې دے
زما بچو له ئې راوړي خېراتي جامې دي

پس له هغې نه د ګلاب پانې په جېب کښې ساتم
چې ستا په غاړه مې لیدلې ګلابي جامې دي

په هر طرف شینکي شینکي ده ښکلاګانې ښکاري
دا ځل هم سم ئې بدل کړې پسرلي جامې دي

څوک دې په دې غاوره کېږي نه هر څۀ پاتې دي
هر څوک دا وائي د دنیا جامې عارضي جامې دي

د ستړي ژوند درته قراره بس خو څۀ به وایم
د غریبۍ نه تورې کړې مې لوګي جامې دي



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

دهوکــــه دې کړم پــــه نوم د مسلمان سپینه جامه کښې
مرتــد وې تـــهٔ منحوس وې د ایمان سپینه جامه کښې

دا نن چې پـــه قمیص کښې پېـــونـــدونـــه لـــړئي ژاړي
دهٔ هم چــــړې تېـــر کـــــړې و دوران سپینه جامه کښې

چې ستا په دغــــــه سپین لباس مې سره وینـــه لیدلې
ډېر بدي راته ښکاري اوس خپل ځان سپینه جامه کښې

څوک وبــــه کـــــړي عمــــر غونـــدې تپوس د یتمانو
څوک وبـــه کـړي بلال غونـدې اذان سپینه جامه کښې

د کوم جــــــرم بــــدل دې تــــرېـنـــه واخستو ظالمــــه
په څـــهٔ گناه دې مړهٔ کـــړل انسانان سپینه جامه کښې

پښتون بــــه ترقي تـــر مرکـــه اونـــهٔ کـــړي قـــراره
همېش دې دوي وژلـــې خپـل کاروان سپینه جامه کښې



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner



" پېژندګلو "

نوم عبدالصبور حسېن لري استوګنه په ګلبهار
نمبر ۲ سټېشن چارسده کښې کوي ادبي تړون د
" ستي جان پښتو ادبي ټولنې " سره ساتي۔



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

خپل پاک تحریک کښې ډوډي خلاسو ته بلنه کـوي
تـــرس خو به خامخا د دهٔ د فکــــر ستنه کـــوي

زهٔ ورلـــه څومـــره په خوږه مینه سوغات ورکړمه
خو د اشنا ظلـــم تـــه گـــوره چې مننه کـــوي

دا زما ورونــــه بـــه د مور مې څـــهٔ عزت وساتي
دا زما ورونـــــه چې پخپلـــه ترې لوټنـه کـــوي

دے د غفلت پـــهٔ خوب اودهٔ بدنـــامـــوي حاکمان
اولس مې خپله باندې خپلـــه حق وهنـــه کـــوي

مغــــرورو جونـــو لـــه مې دغه سزا خوښه ده چې
ســـړے وادهٔ ئې کړي او کال په پړې بنه کـــوي

دغـــــه چې وائـــي چې زما جسم زما مـــــرضي ده
تاسو گواه اوسئ چینجي بـــه ئې سرمنه کـــوي

دغـــه سړي له خو تـهٔ خدايه څهٔ روزگار ورکړې نو
دے به تر څـــو د خلکـو بې ضائع غندنـــه کـــوي

دښمن چې رب ته پرېږدي بيا ئې تتر نـهٔ يخېږي
حسين په ځان به وي چې رب ئې ترې پوښتنه کوي



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

ما لیوني ته په اقرار ورته ځان بدي ښکاري
دا ښځ ساده ده چې په یار ورته ځان بدي ښکاري

د پښتنو زلمو په دې بدبختۍ خه وایم
تعلیم ئې هم نشته په کار ورته ځان بدي ښکاري

دا به ده خپل ښائست توهین کني چې نه ئې کوي
یو لیونی ده په سینګار ورته ځان بدي ښکاري

په ګل ځوانۍ پوې نه شي پلار هم د بچي د غمه
بچې زلمې شي نو په پلار ورته ځان بدي ښکاري

زما بې حسه قام د فن نه خو خوندونه اخلي
خو د فنکار سره په لار ورته ځان بدي ښکاري

حسین خو هر ښکلې خوشحال ساتي او زړه ورکوي
اخر پښتون دے په انکار ورته ځان بدي ښکاري



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

پیمانه رب ستاسو نظام لــه کــړه څکــه کړلــه
پښتنو تاسو عقیــده پـه پــولــه زمکــه کړلــه

د خپل وجود د هر انــدامــه مې ازار واخستو
یـــوه ظالمـــه مې د خپل زړګي ملکــه کړلـــه

پښتانهٔ هغــه ایمل خان دریا خان نــهٔ پیژني
چا چې هم مونږه پښتنو له شملــه لکــه کړلــه

انګریـــز پسند به دې هم هلته پیـــدا کړې وو نو
پښتنه خاوره دې پرې خدایه هسې سپکه کړله

لکه یزید د وخت ګزار بیا هم دانــه وانــه کړم
لکه حسېن کهٔ مې سینه ورته ښهٔ کلکــه کړلــه



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

چې کور ته راشم بچي جېب ښځه مې ترخ ته ګوري
دا خو يو مور ده چې راتلـــو سره مې مخ ته ګوري

چې خپل بچے دې د مکتب پــه لـور بوتلـے نه دے
اوس خو بــه خامخا د جهل ســور دوزخ تـه ګـوري

دؤس د پېغلـو د عــزت هــدو پـرواه نـــهٔ ساتي
په حوَسي نظـــر د خپل وجـــود خاربښ تـه ګـوري

دا چې سرونـــه بائېلي دا خلک کـم عقـل نـــهٔ دي
دوي ازادي غواړي دوي خپل راتلونکي پخ تـه ګـوري

ستا او زما يـــو ځاۓ کېدل داسې ګنمـــه يـــاره
د غـــر د سره چې په زمکــه څوک مولخ تــه ګـوري

حسېنـــه داسې بـــه نـــرۍ کښې بلها امـــن راشي
انسان کهٔ ځان پشان د بل چا درد او سخ تـــه ګـوري



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner



# " پېژندګلو "

نوم نجیب الله نجیب لري استوګنه په جرندو کلي
سارو شاه ضلع مردان کښې کوي ادبي تړون د "
فضل ادبي سنګر درګۍ اشنغر" سره ساتي



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

ستا د یادونـــو دا پېـــریان سېزمـه
ژوند ته مې نهٔ پرېږدي ارمان سېزمـه

ستا انتظـار کښې مې بېللـے نظـــر
ځکـــه دې یاره تصـویـران سېزمه

بس دې درځمـــه خپل وطن تـه یاره
ځان به تر څو په دې هجـران سېزمه

ستا د یـارۍ پـــه دې بـدنامــه لاره
نښې بـــه تـــولې د کاروان سېزمه

کـــهٔ زما نـــهٔ شولې نجیبـــه واوره
ځان به ښکاره پـــه دې جهان سېزمه



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

ما تـــول عمـــر لـــه کـــړې دې تاوان پـــه محبت کښې
نو څنګـــــه بـــــه مې نـــهٔ مني جانان پـــه محبت کښې

ښې ډېرې روپۍ واخلـــــه چې ابـۍ دې پـړې رضا شي
دې تـل کـــړې پـــه ما غلط ګمـــــان پـــه محبت کښې

تــــهٔ یو ځلې پــــه مینه غــږ خو راکــــره نو بیا ګوره
راخور بـــه کړم په تا بانــــدې اسمان پــــه محبت کښې

زمــــــا د بـــې وسۍ خبـــــره لاړه ډنـــدوره شــــــوه
مــــدام چې مې شلېـــدلې وې ګرېوان په محبت کښې

نن ښـــهٔ مې پـــه دې دواړه مخـــه ښکل کـــــره لېونیـــه
تا ډېـــــر کـــــړې لـــــه دې ورځې ارمان په محبت کښې

د مینـې کلیمـــــه مې زمـزمـــــه کـرلـــــه نجیبـــــه
بس تېر مې کړو په سرو شوندو ایمان پـــه محبت کښې



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

بدرنګه راته مــهٔ وایــه بــدرنګــه لېونیــه
دا زړهٔ مې درنه تور نهٔ شي خوش رنګــه لېونیــه

د یو بل دې جدا کړلـو د یو بل پــه کار نــهٔ شو
تر څو به زمونږ زړونو کښې ئې ذنګــه لېونیــه

یو ځل خو به د امن څادر خور شي په دې سیمه
څــهٔ تول عمر به نــهٔ ئې دلته جنګــه لېونیــه

زما د قــد قامت تپوس د هیچانــه ونــهٔ کړے
ښکارېـږمــه همځولـو کښې زهٔ دنګــه لېونیــه

نجیبــه لېونیــه سترګې مــهٔ اړوه زمـا نــه
ویــرېــږم دې د سترګو د غورځنګــه لېونیــه



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

ځنګه چې پرېم کښې دغه دواړه تصويرونه بند دي
داسې مې زړهٔ کښې د مودونه ارمانونه بند دي

نن مې د زړهٔ په درشل راشه څو خبرې اوکړه
بلها موده وشوه زمونږه سلامونه بند دي

دغه مالي خو چې بيخي سرے سنسار کړي داسې
له دهٔ د لاسه په چمن کښې سرهٔ ګلونه بند دي

د ډېره غمه د خپل غم اظهار کولې نهٔ شم
د ډېره غمه مې د زړهٔ همه رګونه بند دي

هغوي مزې وکړې د يو بل نه ګلونه اخلي
زمونږ ترمينځه خو د تلو راتلو روٚنه بند دي

نجيبه ستا د محبت قيصه به داسې نهٔ وه
خو د ملا سره د مينې تعويزونه بند دي



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

د ژونـــدون هــر یو ارمان ئې رانه یوړو
مــرګ چې راغـے نــو جانان ئې رانه یوړو

ستا د یـــاد وریځې داسې راخـورې شوې
د زړګـي د کـــور اسمـــان ئې رانه یوړو

د یو داسې ځنــاور سـره پـه شـر وم
ســر مې بچ کړو خو ایمان ئې رانه یوړو

خړ سېلاب راپسې شوې و پـه خوب کښې
زۀ ئې پرېښـــودم خو ځان ئې رانه یوړو

زۀ د مینې لېونتوب تـه حق حـېران شـوم
نوم ئې راکــړو خو ګرېـوان ئې رانه یـوړو

د اشنا د راتــلـو زېـرے ربـــار راوړو
خوشحالي شولــه خفګان ئې رانه یوړو

نـور منت د مالیار مـــۀ کـوه نجیبــه
بس سپـرلے راغـے خـــزان ئې رانه یوړو



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner



" پېژندګلو "

نوم رضوان فدا لري استوګنه په خطاب کلي

ضلع نوښار کښې کوي ادبي تړون د نیلاب پښتو

ادبي جرګه رشکۍ " سره ساتي



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

اوښکو سلګو بانـدې تېروتې یمـه
ستا په وعـدو بانـدې تېروتې یمـه

نـه نـه زهٔ تـول یاران نـران لـرمه
په دې یو څـو بانـدې تېروتې یـمـه

ښځي پښتو پـګښې د سره نـهٔ وه
زهٔ ئې پټکـو بانـدې تـېـروتې یمـه

څهٔ ئې د سترګـو پـه چل اوغُلېـدم
څـهٔ ئې ښو بانـدې تـېـروتې یمـه

ما وې منـې دي د کابـل خو نـهٔ دي
پـه اننګـو بانـدې تـېـروتې یـمـه

چې ئې دعـوې د وروروليۍ کـولې
تل پـه هغـو بانـدې تېروتې یمـه

هـره مـزه مې د ژونـدون بېـللې
ستا پـه نخـرو بانـدې تېروتې یمـه

رضوانـه نشتـه هغه پـت او پښتـو
پـه پښتـنـو بانـدې تـېـروتې یمـه



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

ببـر وېښتهٔ څيرې کرېوان پښې ابلې پښې روان و
نـن مې لـيـدلــو يـو انسان پښې ابلې پښې روان و

هغـه چې وېل بـه ئې د سـر د پـاســـه سر نهٔ منم
هغـــه مــغــروره مسلمان پښې ابلې پښې روان و

دغـه چې مونـږه د انګرېز د غـلامۍ نــه خـلاص يو
ازغـــو د پـاســـه باچا خان پښې ابلې پښې روان و

يـخــه سيلۍ پــه شرک بـاران و تـکه توره شپه وه
څـــوک مسافـــر و پرېشان پښې ابلې پښې روان و

خوب کښې مې څهٔ اوليدل وايم چې بيا بيا ئې وينم
حسين منظـــر و تــول جهان پښې ابلې پښې روان و

هــغـــه د پلار د سترګـو تـور د مور د زړهٔ ټـکور نن
هغـــه عادت پـــه ځار قربان پښې ابلې پښې روان و

خفـــه په دې شوم چې په دې حال کښې مې اوليدلو
ژړا پـــه دې راغلـــه رضـوان پښې ابلې پښې روان و



www.pukhto.net

Scanned with CamScanner

# غزل

ما د دیــــدن خـــمار تــه چــرته پرېږدي
دا بې وسي مــې ښــار ته چــرته پرېــږدي

کـــــــرانې دا خـلک نـفرتونـه شـیندي
مـــــونږه د مینې کار تـــه چــرته پرېږدي

وېم چې ښائست دې یو په دوه کړمه خو
حــالات مې ستا سینګار ته چــرته پرېږدي

زمـــا نـــه وړانـــدې لـــکه غــر ولاړ وي
یـــاران مې ما ګـــزار ته چـــرته پرېـــږدي

ویــمه چې عــمر لــه شم ســتا رضوانــه
پښتو مې خپل اختیار ته چرتـه پرېـــږدي



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

غلې شوه څـهٔ ئې اونـهٔ وې په خلـهٔ باندې
خدائ خبر چې څـهٔ ئې وو په زړهٔ باندې

وې ئې پـوره لـس ورځې ئې اوشـولـې
کـرښې ئې راښکـې پـه دېوالـهٔ باندې

اے رېبـاره ورشـه ترېنـه اوپوښتـه
مانـه خفـه شـوې ده پـه څـهٔ باندې

لس نشتـه ورې خـور تـه بنکـري ورم
خبـر دې کاکا رائـې کـره اتـهٔ باندې

جـور به شي دا زخـم دومره نـهٔ دے خو
يار کـهٔ ئې کـنـدي په خپل وېښتـهٔ باندې

اوس ترېنه جومات کښې هم خلاصېږو نه
وژني مو پرېږدي مـو نـه مانځـهٔ باندې

اے همـزولـو نـوم ئې دے رضوان فـدا
زهٔ مئينـه شـوې يـم هـغـهٔ باندې



www.pukhto.net
Scanned with CamScanner

# غزل

مونــږ مئينان تـل پــه بلــه وارووي
زلفې چې ول ول پــه بلــه وارووي

خنګــه به ترې سترګې بلخــوا واړوم
يار چې تـور اوربـل پــه بلــه وارووي

څوک مو پېښور ودې ته نــهٔ پرېږدي
څوک رالــه کابـل پــه بلــه وارووي

دا مې حُسن دار يار نــه حيا کـــوي
مخ چې تـرېنــه ګل پــه بلــه وارووي

ځار دې د غـزل غـزل خواني نــه شم
رنــګ مې د غـــزل پــه بلــه وارووي

خــه رضـوان فــدا لېونے پــېژنــې
کلے بـه يــو ځـل پــه بلــه وارووي



Scanned with CamScanner

د کتاب د لوستلو

# ډېره مينه او مننه

Scanned with CamScanner